# شور



زرین پریشان

ټول حقوق محفوظ دي

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | شور |
| صنف | شاعري |
| مصنف | زرین پریشان |
| مرسته | فیاض تور خیلي |
| ټائیټل | قمر صحرائی |
| انتخاب | محمد علی خپلواک |
| ایډیشن | اول |
| شمیر | پنځه سوه |
| کال | مارچ ۲۰۰۸ء |
| بیعه | سل روپۍ۔ عربستان کښې پنځوس ریاله |

خورونکي۔

اباسین پښتو اکیډمي هزاره او عربستان پښتو ادبي ټرون سعودي عرب
د موندلو ځایونه

د پښتو اکیډمي پښور کتابتون، نیورستي بک ایجنسي، پیښور، سرحد
بک ډپو بټګرام۔ قاري نسیم نیوز ایجنټ بټګرام۔

# ټرون

په نوم د هغه چا
چې پښتو وائی، پښتو کوی
پښتو لولی ، پښتو لیکی
او پښتو منی

www.pukhto.net

# د زرينۍ شور

د ښۀ غزل ليکونکی د ښارونو په ځائے په کلو کښې ډېر پيدا کيږی او هغه په دې چې غزل د خيالونو د سوچه والی سره د ژبې او لغت ډېر ساهو توب او سادګی هم غواړی۔ غزل په ښارونو کښې هم ليکلے شی خو د کلی او ښار غزل فرق لری د شغلی او اصلی فرق۔ کله کله نقلی شے د اصلی نه زيات ښکلے او کوټلے ښکاری خو سوچه غوړی سوچه او ډالډه ډالډه۔

په ښارونو کښې نه حجره وی او نه جرګه، نه سيندونه، نه ابشارونه، نه ګودرونه پټی وی او نه ځنګلونه او نه غرونه ــــ ښارونه چرته چې مينه د پيسو سره جوکلے شی، چرته چې ښکلا مصنوعيت ته وئيلے شی۔

مونږ پښتانۀ چې سل په سله د کلو استوګن يوکه د مجبوری له کبله په کلی کښې نۀ هم ؤسيږو خو د نلی تول توکی مو په شعور او لاشعور داسې خوارۀ وارۀ وی چې بل ماحول مونږ نه بدلؤلے شی او نه مو په ځان مئينؤلے شی۔ که هر څو په ښارونو کښې ميشته يو خو د کلی سره د مينې مزی چرې نۀ شلوو۔

www.pukhto.net


د دنیا په اسائشونو،راحتونو،سهولتونواو عیشونو عشرتونو کښې راته خپل د بوڼ کټ او د خاورو کنډول یادیږی ـ د رنګ په رنګ خوراک څښاک په میندځ کښې راته خپله د جوارو ډوډۍ(سُکړک) او سابهٔ (ساګ) مخې مخې ته کیږی او په خُله کښې مو ورته اوبه راځی لکه یو شاعر څه په اعتماد وئیلی دی

د یورپ میخانې واړه ترې لوګے شه
پښتنه چې جام راډک کړی د منګی نه

یا د حمزه بابا د پښتون جمال دا ننداره وګورئ

زهٔ برندې سترګې او شډله ځوانی حسن ګنم
نه نرۍ ملا لکه وښتهٔ نه ټیټې مړې سترګې

د پښتنو دغه اصلیت،خودۍ او رنګینۍ په معنه او خوندنهٔ نوره دنیا خبر ده او نهٔ پرې پوهیږی،زمونږ جمالیاتی ذوق،غمونه ښادۍ،دودونه دستورونه،نور ثقافتی او تهذیبی‌نزاکتونه د نورو قامونو د پوهې او ادراک نه ډیر لرې او اوچت دی ـ پښتون که په مسافرۍ کښې هر چرته مری نو دا ئې وروستنے وصیت وی‌چې د هغهٔ مړے دې د هغهٔ کلی ته ورسولے شی ـ دا ئې د خپلې خاورې او قام سره د مینې انتها ده ـ

www.pukhto.net

زمونږ ښاغلے زرین پریشان د سمندر نه پورې ژوند ژواک کوی خو په ټول کتاب کښې یو ځائے هم داسې نشته دے چې چې د پښتونخواه نه لرې بل ځائے استوګن ثابت کړی لکه د اروابښاد ملګرې شاعرې نزاکت بی بی دا شعر ئې ښۀ دلالت کولے شی

په زړۀ او ذهن مې قابض ئې نور زۀ څه وکړمه
په تش وجود مې د بل خوا کښې خفه کیږې څله

ښاغلے زرین په خپل زړۀ ،ذهن او روح کښې د خپل وطن خپلو خلقو او خپلې خاورې غمونه او ښادۍ انغښتې ګرځوی او لکه د ماشومانو دغه غُوټه،دغه لټاکه دغه ګوتۍ د ورځې څو څو ځله سپړی او لټوی رالټوی ئې ـــ کله د جانان نخښې نښانې په ګوتو ورشی نو کله د قام ځیرې سپړدې.راواخلی او کله د وطن د ګرېوان چیرړې راواخلی او کله د وطن د ګرېوان چیرړې ترې پرانیځی، ځانله شاعرۍ نه موضوعات او خیالات راټولوی-

د کلی والو ښائیستونه خسمانه نۀ غواړی
په ګل بڼونو کښې ګلونه وی مالیار نۀ وی

www.pukhto.net

دلته د ګل بڼ تشریح څومره په اثر ناک ډول کوی۔ بڼ ځنګل ته وئیلے شی چرته چې چا څه کرلی نۀ وی او قدرتی راټوکېدلی وی۔ بل خوا د ښائیست سرچینه په څه ډول څرګندوی او کوم فنی نزاکتونه او تغزل پیدا کوی۔ زمونږ شاعر د تغزل په باریکو هم پوهیږی او د تغزل په شوخۍ، تخیل، جذبه او فن هم خبر دے لکه دغه شعرونه ئې وګورئ او پخپله فیصله وکړئ چې یو نۀ بیان کړے منظر څنګه مخې ته راولی او لوستونکے د ځان سره د جذبې په سیند کښې ورغوپه کوی۔

زړۀ مې درزیږی بنګړی مۀ شوروه
په ما څه کیږی بنګړی مۀ شوروه
لشې لشې لکه زما په بدن
غونے ودریږی بنګړی مۀ شوروه

او هم دغه بونۀونکے رومانی رنګ ئې د تغزل په لاسو اغږلے په پیغلوکې نظم کښې د رومانیت یو ه زړۀ راښکونکې فن پاره رغوی۔ نۀ پوهیږې نومې زبردست نظم کښې ئې د سنجیدګۍ او مقصدیت رنګ هم ډیر شوخ او پوخ دے لکه چې وائی

www.pukhto.net



د دهشتګردو هیڅ مذهب نشته
هیڅ د خدائی په معنه نهٔ پوهیږی
د خدائے بندیان وژنی د خدائے د پاره
د بندګی په معنه نهٔ پوهیږی

د خپل د چاپیرچل د سلګی سلګی نقشه په یوه قطعه کښې څه داسې راکاږی۔

زلزله راغله تهٔ رانغلې اشنا
کلے شو وران مونږ په بارو کښې وُسو
تابه وئیل ماله کوچیانې بنې شی
اوس خو راځه کنه خیمو کښې وُسو

صحافت ته په تندی لیکلے تاریخ وئیلے شو او ادب ته په اخلاص او د زړهٔ په وینو لیکلے تاریخ وئیل پکار دی۔ د ژوند داسې ربتونے ائینه دار چې پکښې نه یواځې واقعې ته نظر شوے وی بلکې نیکه مشوره یا د کشالې د هوارې لارې او تعبیر پکښې په غوره ډول ښودلے شوے وی۔ د صحافت جذبې ډېرې سطحی، کله کله مصنوعی، پیشه ورانه او پیکه پیکه وی ولې د ادب جذبات ډېر فطری او د اخلاص نه ډک وی۔ زرین هم د ادب د کاروان

www.pukhto.net



غړے دے۔ دے د خپلو مشرانو په حق له ډېر په زړۀ پورې خيالات او درنه پېرزوئنه لرى۔ نظم زوړ تصوير د ژور فلسفيانه فکر تصوير دے او بيا په تېره تېره د امن په نوم نظم خو ئې ددې کتاب تر ټولو غوره او د لوړې پائې ليک ګڼلے شو۔ دغه شاهکار نظم د شاعر د ژوندى ضمير، بيدار شعور بالغ نظر په جار ثرګندؤنه او پوخوالى دليل دے۔ ښاغلے زرين لکه د هر قام خوښى شاعر په پټو سترګو د خپل قام د هر ښۀ او بد سره مينه نۀ ده۔ د خپل قام خامى هم اصلاح کول غواړى۔ د قام بدمرغى او کج فهمى ته هم پام لرى۔

يو ئې ګټى او لس ئې خورى زرينه
څنګه به وکړى ترقى پښتانۀ ؟

ډېره مننه

**اباسين يوسفزے**

چيئرمين پښتو څانګه

اسلاميه کالج پېښور پوهنتون

نېټه۔ ۱۴ مارچ ۲۰۰۷ء

www.pukhto.net

# شور په شور

ګرانو خوږو لوستونکو

شاعري د ژوند يوه خوندوَره لطيفه ،حساسه،ژوره او يوه زړه راښکونکې جذبه ده. د خپل چاپېريال نه متاثر شاعر د کائنات د ښائيستونو ، ښکلاګانو ، رنګونو منظرونو تصويرونه د لفظونو په خوږه پسته ژبه جوړوي اوخپل اولس ته يې وړاندې کوي. د ځان او د جانان غم سره سره د جهان غم يې هم د شعر په دړد بدلې او پستې خوږې ژبې سندره کړې وي.

د شاعري په حق له مختلف رائې قائم دي. څوک وائي چې شاعري د فطرت د اړخه يوه نادره عطيه ده چې خدائې پاک چاته ورکړي او د الهام په صورت په شاعر باندې ورېږي. ځينې خلق وائي چې شاعري په ډېر علم پوهې سره د ډېر شعور خاوندان کؤلے شي او څوک وائي چې دا يو فن دے د چې ډېر ذوق او شوق سره د پوهې خاوندان زده کؤلے او کؤلے شي. بايد چې د هر چا خيال په خپل خپل ځائې صحي وي خو ډېر محققين په دې خبره اتفاق لري چې شاعري د فطرت د لوري يوه عطيه

www.pukhto.net



ده چې چاله ورکړے شی، د الهام په صورت په شاعر باندې ورېږی۔

شاعری خو په هر شاعر د الهام په ذریعه ورېږی خو د شعر خراش تراش کؤل د شاعر د پوهې او د هغهٔ د علم سره اړه لری۔ لکه څنګه چې یو زرګر د سرو زرو پترې نه د خپل خپل د پوهې او د فن په صلاحیت کالے سازوی نو هم دغسې د راورېدلی شعر نه خپل خپل په پوهې او علم شاعر د خراش او تراش سره یو ښهٔ او مقصدی شعر ته رنګونه ورکوی۔ یوه پوره مکمل او ښهٔ شاعری هغه ګڼلے او منلے شی چې په هغې کښې که یو خوا د جانان د حسن ښائیستونو د نازونو اداګانو د نخرو د خنداګانو رنګونه خنډؤلے شوی وی نو بل خوا د جانان د بې رخیانو، جفاګانو ستمونو قیصې پکښې هم ژړلے شوې وی۔ که یو خوا پکښې د محبوب د دیدنونو، ملاقاتونو او د مهربانیانو سندرې ستائیلے شوې وی نو بل خوا د محبوب زړهٔ خوړلې جدائی، زړهٔ چاؤدې انتظارونه او زاره چاودی د هجر د تورو اوږدو د شوګیرو د شپو ساندې پکښې هم چغؤلے شوې وی۔ که چرته پکښې سماجی، معاشرتی، معاشی، سیاسی، مذهبی او د ثقافتی کړلېچونو لارې د نېغؤلو هڅه شوې وی نو چرته

www.pukhto.net



پکښې د وطن د مينې ، ښکلاګانو ، ښائيستونو او د منظرونو رنګونه هم ښکارى ـ چرته پکښې د ماضى په حواله خپلې قامى او تاريخى معرکې د حال تازه کؤلو او د ژوند د پرمختګ د پاره ذکر شوې وى نو چرته پکښې د حال په حواله يو روڼ سباؤن ( مستقبل ) د ضرورتونو او د نوى دور سره قدم په قدم د تلو لارې تاکلے شوې وى ـ که يو خوا پکښې د ظالم د ظلم غندنې او د لارو نيولو غږ شوے وى نو بل خوا پکښې د مظلوم د مظلوميت سره د داد ګيرنې او د مرستې ترغيبونه ښودلے شوى وى ـ که يوا پکښې خپلې د مورنۍ ژبې د مينې او د ودې تذکرې شوې وى نو بل خوا پکښې خپلې ملى او خپلې ثقافتى د ميراثى خزانو پخې پالنې او روزنې شوې وى ـ

شور زما دوئيمه شعرى مجموعه ده چې دا وخت ستاسو د لوستونکو د نظر د جاج لاندې ستاسو د لوست منتظر ده ـ له دې نه وړاندې زما اولنۍ شعرى مجموعه **ګلونه په شپلونو** ۱۹۹۶ ء کښې د فياض تور خيلى ، محمد على خپلواک ، عربستان پښتو ادبى تړون رياض ، اباسين پښتو اکيډمى بټګرام په مرستو او تعاون چاپ شوې وه ـ ګلونه په شپلونو لوستونکو دومره خوښه کړه چې لاس په لاس د هغې مجموعې کاپۍ پښتنو مئينو

www.pukhto.net



لوستونکو په هغه کال اوچتې کړې ، ګنې زمونږ د پښتون قام خو دا المیه ده چې پښتو کتاب ورته په بیعه اخیستل ډېر د زیان او د تاوان سودا ښکاری۔

زۀ د هغه ټولو لوستونکو شکر ګزار یم چا چې زما دا کتاب اخیستے او لوستے دے ۔زۀ د رحمت شاه سائل نور البشر نوید ، د خدائې بخښلی افسر علی خان افسر ( خدائې پاک دې هغه اوبخښی ) عمر زاده افغان قمرصحرائی او د خپل خور ملګری شاعر حسین محمد عادل هم ډېر مشکور یم چې هغوئی ګلونو پۀ شپلونو باندې پۀ زړۀ پورې او د ستائېنې او د داد ګیرنې لیکونه لیکلی وو۔ د هغه سترو لیکوالو،شاعرانو،ادیبانواو د پښتو مئینو هم ډېره شکریه ادا کوم چې هغوئی ماته ګلونه پۀ شپلونو باندې خپل خواږه او درانۀ د ستائینې د مینې ډک لیکونه را استولی دی۔ پۀ تېره تېره د ښاغلی اجمل ختک بابا او د خدائې بخښلی ( خدائې دې اوبخښی ) شمس الزمان شمس ډېره ډېره مننه کوم چې هغوئی په دومره ډېر او تېر عمر کښې زما په دې کتاب ګلونه پۀ شپلونو د ستائېنې او د داد ګیرنې لیکونه راستولی دی۔ ګلونه پۀ شپلونو کښې د چاپ په وخت د مونږ نه ډېرې کمیانې او غلطیانې شوې دی انشا الله ډېر

www.pukhto.net

زر به ګلونه په شپلونو په نوی کتابت په نوی ټائټل او په یو نوې انداز چاپ کړے شی او لوستونکو ته به وړاندې کړے شی۔

په **شور** کښې هم د نن زړۀ پورې صنفونه غزل، نظم، قطعه او رباعی شامل دی۔ په شور کښې مونږ په خپل وس دا خیال ساتلے دے چې د مونږ نه پکښې څه کمے زیاتے او یا څه غلطیانې ؤنۀ شی خو بیا هم د انسان د وس او د پوهې خبره ده که څه کمے زیاتے پکښې شوے وی نو د لوستونکو نه بخښنه غواړم۔

شور د ډاکټر فیاض تورخیلی په خواهش د هغه په مالی او بدنی مرستې چاپ شوے دے۔ د شور د چاپ تکل ما په ۲۰۰۵ ء کښې کړے ؤ خو د ۸ اکتوبر ۲۰۰۵ ء قیامت خېزه زلزلې چې اوس هم مونږ ئې د خېمو په ژوند تېرؤلو مجبوره کړی وو د مانه هغه وخت زما دا خواهش نیمګړے پاتې کړے ؤ۔ اوس چې زۀ د عربستان نه او فیاض تورخیلی د سویلی افریقې نه وطن ته په چهټی راغلو نو دا کتاب شور چاپ شو۔ فیاض تور خیلی اګرچې شاعر نۀ دے خو ماهر ډېر دے۔ تور خیلی په پښتو ادب ژور نظر او ادراک لری۔ همیش پښتو ادب سره تړلے او نزدې پاتې شوے دے۔ په پښتو او پښتنو

www.pukhto.net

باندې ډېر منېن دے۔ د عربستان پښتو ادبي ټرون باني غړے او اولنے ستر سیکټر پاتې شوے دے۔ په عربستان پښتو ادبي ټرون کښې د هغۀ او د هغۀ د ملګرو پښتني خدمات به همېشه یاد ساتلے شي۔ د اباسین پښتو اکېډمۍ او د تور غر درې میاشتینۍ سره د هغۀ مرستې هم د قدر وړ دي۔ د تور خیلي ټوله کورنۍ په دې سیمه په پښتو او پښتونولۍ کښې ډېر مشهور دي

په شور کښې د اباسین اکېډمۍ د ملګرو ستائېنې او مینې هم شاملې دي په تېره تېره د قمر صحرائي. محمد علي خپلواک. بختیار انجم. کفایت الله حېران. بخت نواز وصال. ګلفام صابر. اختر جاوید خان اختر. پیر نادر شاه پیر. دې سره سره د عربستان پښتو ادبي ټرون د ملګرو محبتونه. ډاډ ګیرنې او ستائېنې هم په شور کښې شاملې دې لکه اخونزاده عزیز الرحمان عزیز. سعید احمد سعید. بهرام وډیګرام. عالمګیر شاهین. نصر الله ناصر. صمد عامر او فخر عالم فخر۔ زۀ د قمر صحرائي ممنون یم چې هغۀ خپل د مشترک کتاب (نظم) د ننډهیارۍ چپې ټرون زما په نوم کړے ؤ۔ د حسېن محمد عادل هم مشکور یم چې هغه خپل د کتاب (نظم) پرخه په ګلاب سحر ټرون زما په نوم کړے ؤ۔ زۀ د دې

جوګه نه یم چې څوک خپل د کتاب انتساب زما په نوم وکړي خو دا د هغوئ خپل پښتون ظرف ؤ چې زما د پښتو ادب د خدماتو اعتراف يې کړے دے زۀ په دې مست هم یم او فخر پرې هم کوم.

له دې نه وړاندې چې زۀ خپلې دغې تذکرې شور په شور نه لاس راکاږم هغه اديبانو، شاعرانو، ليکوال دانشورانو او تنقيد نګارانو ته خواست کوم چې په کتابونو سريزې او تنقيدی تذکرې او مباحثې ليکی. خدائې په نوم پښتو ادب سره انصاف اوکړئ او نورې دا بې ځايه سريزې مۀ ليکئ او بې ځايه تنقيدونه مۀ کوئ. ستاسو سريزې او ستاسو تنقيدی جائزې بيخی د کتاب دننه ليک سره مطابقت نۀ خوری. تاسو ولې د مصلحت نه کار اخلئ. تاسو خو رښتيا ويونکی او د اولس رهبران يئ. ستاسو جائزې د بېځايه چاپلوسو او د بيځايه تنقيدونو ولې ښکار دی. ستاسو څه قد په دې کښې کمېږی که چا ښۀ ليکل کړی وی په هغه ښۀ او که چا کمزورے ليک کړے وی په هغۀ تنقيد اوکړئ. خينې ځينې تنقيد نګاران چې ځان ته ډېر عالمان او پوهان وائی د احساس برتری په بتهې کښې اوسوزيدل. دوئی خو يا په شعر پوهېږی نه او يا پرې د ځان پوهولو کوښښ

www.pukhto.net


نهٔ کوی ـ او کله چې د چا په لیک تنقیدی لیک کویٔ نو لوستونکو ته دا د څرګندونې کوښښ کېږي وی چې زهٔ یو ډېر غټ عالم فاضل یم او دا زهٔ چې په چا تنقید کوم دغه شاعر په هېڅ هم نهٔ پوهېږی حالانکې ددې خپله شاعری د کتاب د مصنف شاعر نه زوره او خوږه نه وی ـ تنقید کره کتنې ته وائی ـ په هغه کښې دواړه اړخونه په ګوته کېږی او هغه شعر چې په هغې تنقید کؤنکے تنقید کوی نو متبادل د هغې حل هم ښائی ـ منم چې تنقید د ادب یوه برخه ده ، ددې نه بغیر ادب نیمګړے دے خو هېڅ بې هېڅه تنقید تنقید نهٔ شی کېدلے تنقیص وی ـ

یو تنقید وی د اصلاح د پاره کېږی
ښهٔ ته ښهٔ او بد ته بد پکښې وئیل دی
یو تنقیص د خود نما ذهن انا ده
ځان په بل باندې منل بل نا منل دی

او بې ځایه چاپلوسیانې هم د ریښتینی او سوچه ادیب او شاعر سره نهٔ ښائی ـ زما ددې خبرې مطلب هرګز دا نهٔ دے چې ګنی هره سریزه او هر تنقید بې ځایه دے ډېر ښهٔ ښهٔ لیکوال خپلې جائزې ډېرې په ایمانداری سره لګیا دی کوی او د پښتو ادب خدمت په په یوه سوچه جذبې سره سرته کوی ـ

www.pukhto.net



په اخیره کښې زهٔ د لوستونکو نه دا امید لرم چې هغوئی به زما دا کتاب شور اولولی او خوښ او قبول به يې کړی ـ ماته به خپلې درنې رائې او مشورې د کتاب په حقله راؤلیږی ـ د اباسین یوسفزی په دې شعر اجازت غواړم د خدائې په امان ـ

که زما د شخصیت حدونه ګورې
زما فن زما د فکر ترجمان دے

په ډېر درنښت
**زرین پرېشان**
۱۲ـ۱۲ـ۲۰۰۶

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



Pukhto.Net
پښتو

# دعا

---

ماله د علم رڼا راکړې ربه
پوهه شعور زما بلها کړې ربه
که دا دعا مې شی قبوله نو بیا
زما په شان ټوله دنیا کړې ربه

---

www.pukhto.net

## عقیده

زهٔ د الله وحدانیت باندې ایمان لرم
د محمد په نبوت باندې ایمان لرم
زبور تورات انجیل قرآن او صحیفې منم
د هر انسان په محبت باندې ایمان لرم

---

## خواست

زهٔ ګنهګار یم تهٔ بخښونکے ربه
د خپل بنده مې ګنهګار نهٔ کړې
روژه دې اوخورم مونځ دې هم اونکړم
خو د چا زړهٔ رانه ازار نهٔ کړې

---

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



# شور

په زندان کښې د زنځير شور
په پنجره کښې د مرغۍ شور
د پائېلو په کوڅه کښې
د بنګړو دے په بلۍ شور
يو د درد د ځړيکو شور دے
بل د حسن د مستۍ شور
يو د ژوند د بدرنګۍ شور
بل د ژوند د رنګينۍ شور
شور دے شور دے په هرڅه کښې
په هر لور د زندګۍ شور

په بنګله کښې د رنګونو
د سرخښې د سيالۍ شور
د جونګړې په نغرى کښې
د سابۀ او د دوډۍ شور
د مظلوم په مخ خپېړه
د ظالم د برترۍ شور

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



د مزدور په کارخانه کښې
د محنت د مزدورۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

کور په کور کلی په کلی
دے د کلی کلوبغۍ شور
تا رانۀ کړه او ما راکړه
په ګاونډ کښې د جانجۍ شور
د رېښتو په خپلولۍ کښې
په یو بل د بې رخۍ شور
د یارانو یارانه کښې
خود غرضۍ د ځان ځانۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

ددې مزکې د پستۍ شور
د اسمان د بلندۍ شور

www.pukhto.net



د هر ځیز زره زره کښې
د الله د لوئې والې شور
چې تر عرشه پورې رسي
د بنده د بندګۍ شور
د نېکانو د نیکۍ شور
د بدانو د بدۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

په چپو کښې په لمبو کښې
د یخنۍ او د ګرمۍ شور
په یخ ژمي کښې د واورې
په چېتر کښې د ږلۍ شور
د اسمان په ګرځېدو کښې
د باران او د سیلۍ شور
تندرونه تندرونه
د وریځو د بجلۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

www.pukhto.net



د خزان د ووچو پاڼو
د سپرلي د ګل غوټۍ شور
ژړاګانې خنداګانې
د ماتم او د ښادۍ شور
د ډولۍ نه وړاندې ورستو
د ډولکي او د تورۍ شور
جنازې سره د ساندو
دے روان سلګۍ سلګۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د زندګۍ شور

Pukhto.Net
پښتو

په ګرجه کښې پادري ګوري
په صليب کښې د سولۍ شور
د پنډت جي په مندر کښې
خپل بهګوان ته د زارۍ شور
کميونسټ هيڅ نۀ مني هم
کوي خپل د هوښيارۍ شور
خوروي ملا جمات نه
په دنيا کښې د خدايۍ شور

www.pukhto.net

شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د زندګۍ شور

د مرغو په چنارونو
د ماښام په تروږمۍ شور
ماسخوتن د ماشومانو
په هر کلي کښې هر ځائې شور
په کوڅه کښې پټ پټونې
په چمونو د انګۍ شور
بیا په نیمه شپه حجرو کښې
د زلمو د لنډیو شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د زندګۍ شور

د مئینو په قیصو کښې
د ایثار د قربانۍ شور
د مجنون په لیونتوب کښې
د لیلا د بې صبرۍ شور
د فرهاد په ارادو کښې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



د هغهٔ د شیرنۍ شور
د ادم د رباب ترنګ کښې
په هر تار د درخانۍ شور
شور دَے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

خو یو بل شور پکښې هم شته
هغه شور د خاموشۍ شور
ځان سره په تنهايۍ کښې
د جانان د سرګوشۍ شور
د اظهار اقرار په مینځ کښې
د احساس د کمترۍ شور
د دیدن په وخت د زړونو
د جذبو د ودانۍ شور
شور دے شور دے په هر څه کښې
په هر لور د ژوندګۍ شور

www.pukhto.net

# نظریه

---

پښتو او پښتونخواه به اسمانونو باندې ؤلیکم
تاریخ به ورله سور د زړۀ په وینو باندې ؤلیکم
په خپله خاوره خپل اختیار او خپله د پښتو ژبه
دا چغه به د نوې کهول په زړونو باندې ؤلیکم

---

# جانان

---

ځان ئې جوړ کړو آئینې ته آئینه شوه
تماشه د تماشې په تماشه شوه
په ګل ګل وجود یې خپل ښائیست راخور شو
که سپوږمۍ په ګل ښونو راخورد شوه

---

www.pukhto.net



د شپې ناوې په غېږ کښې ريږدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

خاموشه خاموشي کښې د سپرلي د سيلۍ شور
ګلاب کښې رنګ د شونډو د پښتو اننګو خور
سور زړه کښې د لاله داغونه تور د سترګو تور
غاټول هسکه غاړې نرګس په خپل ډنډ رنسکور
چپه پرې د رنګونو غوربدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

زړه مستو هواګانو نښتروته شغؤل
نرو نرو بادونو چناروته شنؤل
ټيکاؤ ټيکاؤ ډنډونه آبشارونو رپؤل
د وارو اوازونو نه سازونه جوړېدل
د خيال ښاپيرۍ مينځ کښې ګډېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

يو خوږ غوندې احساس په کائنات راوربدۀ
آسمان په ستورو ډک په رڼاګانو پړقېدۀ

www.pukhto.net



فضا کښې ترم باد د خوشبویانو چلېږۀ
یو نور د نکهتونو په ماحول راخورېدۀ
وږمه ترې ښاخکې ښاخکې ښېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

تازه تازه موسم د یخو یخو پلوشو
خمار خمار ماحول کښې غزونې د نشو
جانان جانان منظر د زړۀ راښکونکو نظارو
مدهوشه کیفیت د مستو مستو تماشو
خوږه خوږه هوا راالوتله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

زرینه زۀ او یار یو بل سره وو ښنګ په ښنګ
زرینه سترګو سترګو کښې ؤتود د سترګو جنګ
زرینه په هر لور ؤ د لیلا د بنګړو شرنګ
زرینه نور د رنګ د پاسه نۀ شو ختے رنګ
چې ویښ شوم د نمر خیره لړېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

---

www.pukhto.net

# وطن

چا که دې وطنه ورشو ګانې وږمې کړې دی
مونږ ستا د ښونو شغاګانې نغمې کړې دی

چا که دے خور کړے د وطن د محبوبې اوربل
مونږ ورله تار تار زلفې په مخو خورې کړې دی

چا د سینه په غاړه کۀ تود کړے دے سکښے ما ښام
مونږ د مازیګر لوبې ګودر کښې تودې کړې دی

چا که دګل رنګ ورکړے دے د جانان شونډو له
مونږ د غوخ زړۀ په پرهرونو سرې کړې دی

چا کۀ د درد ساندې دی وئیلې د وطن په غم
مونږ ورباندې وینې اوښکې راتوې کړې دی

چا کۀ د ایلم د مالاکنډ پګړې ترلې دی
مونږ هم د تور غر د چېل سرونه شملې کړې دی

چا کۀ په قربان د کومې سیمې پورته کړے دے
مونږ د بټګرام د ځکو غرونو تپې کړې دی

چا کۀ د شملو سره راکړې ده سره ټکره
مونږ ورله تودې غوښې په خلۀ کښې سرې کړې دی

www.pukhto.net



چا کۀ د انګورو جام راکړے دے نو مونږ ورله
خپلې د چینې اوبۀ په ګړو خورېږ کړی دی
چا کۀ انتظار تر غرغړیز مازیګر کړے دے
مونږ هم د سپوږمۍ ختوته شپې شوګیرې کړی دی
چا کۀ دی ستائیلې د جانان اوږدې اوږدې قیصې
مونږ ورله وړې وړې خبرې قیصې کړې دی
اوس به ورته پېغلې او زلمی تالونه اچوی
مونږ دا چنارونه نښترونه لوئې لوئې کړی دی
چا که د وطن د دړد سندره چغولې ده
مونږ پرې هم د دږدڅړیکې زرینه لمبې کړې دی

---

www.pukhto.net



ستا احساس راته په لاره چراغان دے
لکه سپوږمے زما ماسره روان دے

په زړه جامه کښې هم ښکلې ښکارېږی
ګل خو ګل دے په کمخوکه په ډېران دے

نور يې واړه خواهشونه کنډرېان دی
محبت مې د زړګی په کلی خان دے

د يو ګل ښائيست ګلاب ته نۀ رسيږی
د ګلاب نه چې ښائيسته دے نوجانان دے

ورځ په نمرشپه په سپوږمۍ باندې رڼا وی
زما زړۀ په محبت باندې روښان دے

په تندی کښې دِسورټيک په زنه شين خالَ
يو ځائے کړے دې هندو او مسلمان دے

د انسان د محبت عقيدت مند يم
خدائے نه پس ته په انسان زما ايمان دے

www.pukhto.net



لېونی هم د بناروںو پلو مات دی
دا د غر هومره ژوندون یواځې ګران دے

ګټور هم په ګاټه کښې ګټه ګوری
مونږ د ګټې ځائے کښې هم کړے تاوان دے

مونږ د وخت بې قدره وخت نه قدر غواړو
وخت د خپلو قدردانو قدردان دے

مونږ خو خوشے ژوند د مرګ له ویرې تېر کړو
ژوند د مرګ په مئینانو مهربان دے

ښهٔ او بد وی د صحبت د اثر لاندې
د بنده بنده رحمان بنده شیطان دے

خپل اختیار په خپله خاوره باندې غواړی
دهشت ګرد زرینه څکه مسلمان دے

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



وخت د حالاتو په جپې راته خپې اچوی
خپله د ذهن روښنائی راته خپې اچوی

په غوڅوغوڅو ترا ړو پټ ختلوشونډو
د دنداسې د پټ سرخی راته خپې اچوی

هره ورځ مرمه ژوندے کېږم تماشه جوړوم
دښار په چوک کښې غریبی راته خپې اچوی

بربنډ لغړ خیرن خچن چنو کوڅو کښې اوده
د لېونو دا بې خودی راته خپې اچوی

د مظلومانو په سرلاس د دلاسې راښکلے
د تشو تکو خواخوږی راته خپې اچوی

د مړی کور کښې د ماتم د ژړاګانو سره
نوې جامې سینګار کالی راته خپې اچوی

د اوږو چم باندې د ډمو د پائېلو شنها
دا زړۀ چاؤدلې زندګی راته خپې اچوی

 www.pukhto.net

په وینو سور زنځیر د دار د سر نه څڅېږي وهی
د بې وسانو بې وسی راته خپی اچوی

زرینه ډېر کۀ له حالاتو سترګې پټې کړمه
خپله حساسه شاعری راته خپی اچوی

---

Pukhto.Net
پښتو

۱ ـ جپی.... په خله لاسونه یا څه کپړې سره جپی اچؤل یعنی سا بندؤل خُله په زبردستی سره بندؤل
۲ ـ خپی....خپه ،د مری نه خپه کؤل

www.pukhto.net



# حیثیت

څوک چې د خپل څادره پښې اوباسي
د ذول په شپه کښې به ډیوې اوباسي
په وړه خُلهٔ غټې خبرې کؤل
ګوره کم ظرف خپلې جامې اوباسي

---

Pukhto.Net
پښتو

# مزدوري

د هاړ په تړقېدلو سوړاړو کښې مزدوري
لمدو نښتو جامو سره خولو کښې مزدوري
زرینه د عرب په بادؤنکی ریګستان کښې
والله چې ډېره ګرانه ده غرمو کښې مزدوري

---

www.pukhto.net



# ریښتنې جذبې

د غوځ غوځ زړهٔ په پرهرونو باندې
څو چې دِ اوچې شونډې سرې نهٔ کړمه
ستا ورانې ورانې سپورې سپورې زلفې
زهٔ به په ځان باندې خورې نهٔ کړمه

تهٔ د خور پورې زهٔ راپورې اوسم
تهٔ ددې غرهٔ لمن کښې غوان څروې
زهٔ روزانه وائیم چې مونږ کره ځو
تهٔ بدګمانه بدګمان څروې
نن چې خور راغے کور ته تللے نه شې
تهٔ وائې تاسو کره شپه کومه
ورځه د مونږ کره نن ځائے نشته دے
زهٔ په بې وسو شوګیرې نهٔ کړمه
هغه د ژمی شپه مې هیره نه ده
چې کومې شپې باندې باران وریدهٔ

 www.pukhto.net

تهٔ میلمنه راغلې مونږ کره وې
بهر باراْن په تا جانان وربدهٔ
تهٔ راغلې ما ښخه تا مړه کړه ډیوه
غاړه غړی رانه چاپېره شولې
ما کړې په زور د ځانه لرې لرې
مینه کؤم خو په تیارې نه کړمه
ورځ د اختر وه مونږ واړهٔ غوندې وو
لوبې کولې په کوټو باندې
ما درته اوکتل په ځوانه جذبه
تهٔ راته سره شوې په ښېرو باندې
نن چې دې اوخندل په مینه مینه
د ماشومتیا وختونه بیا رایاد شول
تا خو ښېرې د ځوانی مرګ کړې وې
ورځه زهٔ پېغلو ته ښېرې نهٔ کړمه
یو مازیګر زهٔ په ګودر تېرېدم
چې تهٔ په غاړه د چینې ناسته وې
چرته لمبلی دې جامو سره وو
لمده خوشته نخښتې جامې ناسته وې

www.pukhto.net

تا وې چې ما ته راؤچت کړه منګے
ما وې له تا نه راله شرم راځی
پرېږده منګے درسره زۀ اوړمه
خو دا بربنډې نظارې نۀ کړمه
زۀ قدردان د هغه خلقو يمه
چې په سپين زړۀ کښې ساتې سپينه مينه
چې خپلواکی لری د زړۀ په جذبو
د ګل ورين حسن شيرينه مينه
په ظاهر دارو باندې نۀ يم مئين
د خود غرضو مينه بنه پېژنم
وائی زرين په داسې خلقو باندې
به زندګی خاورې ايرې نۀ کړمه

www.pukhto.net

# وعده خلافی

د وخت په پیر کښې د دوران سترګې بدلې شولې
حالات بدل شو د جانان سترګې بدلې شولې
په جنتی اباسین لامبی پنجابه حوره
تسبې په لاس کښې د رضوان سترګې بدلې شولې
بیا حسنیان له تندې وژنی د فرات دشتونه
بیا د یزید ابنِ سفیان سترګې بدلې شولې
بیا فرنګی اسونه زین شول پښتانهٔ چقوی
بیا د فېرنګ په باچاخان سترګې بدلې شولې
خپل دې کوهی ته غورځوی پردی دې څنګه کړی خپل
یوسف ته وائیٔ د کنعان سترګې بدلې شولې
چې یې پرون اباد وُل وربانډې شاړ وندونه
د هغه خان نن په دهقان سترګې بدلې شولې
چې د کارغانو سېل کښې تلې مردارو غوښو پسې
شاهینه ستا هم د ایمان سترګې بدلې شولې
هغه پښتو دې پخوانو سترګو کښې پاتې نهٔ شوه
څکه په تا د پرېشان سترګې بدلې شولې

---

www.pukhto.net



زړهٔ مې درزيږی بنګړی مهٔ شوروه
پهٔ ما څهٔ کيږی بنګړی مهٔ شوروه

د اسرافيل د شپيلۍ غږ نه مخکښې
دنيا ورانيږی بنګړی مهٔ شوروه

ستا د زړهٔ مستو اداګانو سره
زړونه غوځيږی بنګړی مهٔ شوروه

لشې لشې لکه زما په بدن
غونې ؤدريږی بنګړی مهٔ شوروه

په ډک محفل کښې بې نقابه نهٔ شُو
خلق پوهيږی بنګړی مه شوروه

دا شومه دم او دا خاموشې کوڅې
شپه راويښيږی بنګړی مه شوروه

ټوټې ټوټې د پرېشان په زړهٔ کښې
بنګړی ماتيږی بنګړی مهٔ شوروه

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



## همزولی

اظهار اقرار په ځان کښې مُشت و ګریوان
خاموشه جنګ دے ددې دوه همزولو
د ځوانئ چم بانْدې د مینې لوبه
خدایه توده کړې د جوړه همزولو

---

## د کابل غزا

چا چې پرون وې روس کافر مسلمانان قتلوی
نن هم هغه خلق پخپله افغانان قتلوی
هغه غازیان د کابل څۀ شول چې تپوس ترې ؤکړو
دا کوم جهاد دے چې نن یو بل جهادیان قتلوی

---

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



# غني خان

## (د غني خان په مرګ)

چې د لفظونو تصویرونه جوړولے شي څوک
د اشارو نه چې خبرې سازولے شي څوک
چې د زړهٔ څړیکې او درزا سندرولے شي څوک
چې د پائېلو نه سازونه سرولے شي څوک
د دار په سر چې زنځیرونه شورولے شي څوک
د بې وسۍ اوښکې په مخ چې خندولے شي څوک
داسې فنکار داسې شاعر څوک هیرولے نهٔ شي
په زړونو راج کوي د زړونو نه وتلے نهٔ شي

د یو باچا ملنګ کره د ملنګۍ نمونه
د بابا جان د خدائۍ خدمتګارۍ نمونه
د قام پرستو نړیوالو د نړۍ نمونه
د ننګ ناموس او د پښتو پښتونولۍ نمونه
د لویو لویو فلسفیانو لیونۍ نمونه
د یویشتمې د صدۍ د شاعرۍ نمونه

www.pukhto.net



مهٔ وژنه مهٔ وژنه مرګیه د وژلو نهٔ دے
داسې شاعر په تورو خاورو د سپارلو نهٔ دے

چا پښتو اوخوړه او څوک دلته پښتو وخوړل
چا پښتو خرڅه په اُردئ کړله تمغو وخوړل
د نر پښتون خوشحال خټک نمسی عهدو وخوړل
قمیص پرتوګ ترینه نن کوټ پتلون ټائیو وخوړل
سالم چیلی د پېښورو نه لاهورو وخوړل
پښتو مئین ددې وطن کوڅو کښې سپو وخوړل
په داسې وخت کښې ژوربین غوندې شاعریکار دے
یو لیونے فلسفی بل د اشنغر پکار دے

Pukhto.Net پښتو

تا د پښتو ادب په باغ کښې باغوانی کړې ده
تا د پښتو د نظم کلی کښې خانی کړې ده
د پښتنو په زړونو تا حکمرانی کړې ده
تا د پښتو دښمن سره تل دښمنی کړې ده
د هر یو خوار غریب سره دې یارانی کړې ده
د ځویی قاتل باندې دې هم مهربانی کړې ده
ستا د نظر نیلی الوت په اسمانونو کوؤ
د پښتونخواه په دنګو دنګو تورو غرونو کوؤ

www.pukhto.net



ستا د شراب نشه نشه لفظونو په نوم
ستا د خمار خمار د مست مست د نظمونو په نوم
ستا د تؤدو تؤدو رنګینو مابنامونو په نوم
د سیند په غاړه د جانان جانان ذکرونو په نوم
ستا د معنونه ډک ښائیسته ښائیسته خوبونو په نوم
ستا د انسان د ښیرازۍ د مضمونو په نوم
قربان مې ټوله شاعري دِ شي د تانه غني
وائی زرین د اشنغر وړوکے خانه غني

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



تهٔ چې مسکۍ شوې په مړو زړونو کښې دِ سا راویسته
زما د زړهٔ تلو نبضونو کښې دِ سا راویسته

تا ته ګلونو او ګلونو ته چې تا اوخندل
د پسرلی په ښائستونو کښې دِ سا راویسته

تهٔ چې لمبه لمبه شوې شمعې د جونګړې په سر
په دې خاموشه محلونو کښې دِ سا راویسته

د چا د مړ ارمان د قبر مړاوې مړاوې ګلان
تا چې په غاړه کړل ګلونو کښې دِ سا راویسته

هسې هم تود وی مازیګر چې په چم تهٔ وُختې
د کائنات په منظرونو کښې دِ سا راویسته

په د منصور بچیه سره چغه شه منم به دې
کهٔ د مقتل په دېوالونو کښې دِ سا راویسته

په هر یو دور کښې ژوندے اوسې پښتو غزله
چې د زرین په غزلونو کښې دِ سا رویسته

———

Pukhto.Net

www.pukhto.net



# بتہ کرام

د بتہ کرام د هسکو غرونو
ډکې په واورو سپینې سپینې څوکې
د پښتنی تهذیب سُوچه نمونې
دا ګل ورینې ګل ورینې څوکې

www.pukhto.net



## د یویشتمه صدۍ سندره

د مالاکنډ په سر تپه شه چې شي ګل ګلونه
د نوی کهول مېرمنې
چې د تور غر زلمی دې کېږدي په اوربل ګلونه
د سباؤن مېرمنې

د مالاکنډ په سر تپه شه یوه داسې تپه
چې توري اوشرنګوي
چې غوني شي پرې زړونه خوږه داسې تپه
چې بنګړي اوشوروي
چې په ګډا کړي د وطن شډل ګلونه
چې د تور غر زلمی دې کېږدي په اوربل ګلونه
د نوی کهول مېرمنې
د سباؤن مېرمنې
د مالاکنډ په سر تپه شه تماشې جوړې کړه
لمبه لمبه کړه حسن

www.pukhto.net


شونډو له رنګ ورکړه او زلفوله ګجرې جوړې کړه
ښائیسته ښائیسته کړه حسن
چې درله راوړم د هلمند او د کابل ګلونه
چې د تور غر زلمی دې کېږدی په اوربل ګلونه
د نوی کهول مېرمنې
د سباؤن مېرمنې
د مالاکنډ په سر تېپه شه یوه سره چغه شه
دنیا ته ځان اوښایه
چې ابدالی سندره کړې وه هغه چغه شه
هر چاته ځان اوښایه
چې د خندا نه په ښا واوړی د کارګل ګلونه
چې د تورغر زلمی دېکېږدی په اوربل ګلونه
دنوې کهول مېرمنې
د سباؤن مېرمنې
دا نوے دؤر نوې نوې ارادې غواړی اوس
د نوې نوې نړۍ
د ژوند او مرګ په برید اتلې فیصلې غواړی اوس
د یویشتمې صدۍ

Pukhto.Net

www.pukhto.net



زرغونۀل غواړی زرینه په منګل ګلونه
چې د تور غر زلمی دیکېږدی په اوربل ګلونه
د نوی کهول مېرمنې — د سباؤن مېرمنې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



وضاحت : دغه غزل د مشرف او د
اجمل خټک په ملاقات مې ليکلے دے

شونډې دې لمبې کوي هم سترګو کښې دِ اور دے
ستا د دې قاتل حسن په هر انداز کښې شور دے

ستا په تندي ټيک په مخ لسن به چاته عيب وي
ماته خو يو سُور د زړۀ او ربل د سترګو تور دے

هسې نه د اوښکو کالاباغ دې په مخ جوړ شي
وران به شي په دغې پښتونخواه مې د زړۀ کور دے

تۀ لکه کونتره راته برندې سترګې ګورې
ځکه خو زما د نظر باز دربندې خور دے

اوخانده جانانه ماسره که ماته خاندې
ستا دغه خندا زما د خُوږ زړګي ټکور دے

اورم نن سبا رقيب په ځنګ کښې دې بهيرې
څۀ نه څۀ خو دې چې ستا د سترګو اکر نور دے

www.pukhto.net



زهٔ نهٔ یم موسی او نهٔ پهٔ طور باندې ولاړ یم
زهٔ چې پرې جلوې وینم پامیر او یا کېمور دے

سرې شونډې ګلګون مخ تورې سترګې خورې زلفې
بیا دې پسرلے په دغه سیمه کښې سمسور دے

ګرم نه یم زرینه ورک دنیا نه یم په ځان کښې
فکر د جانان لکه جنون راباندې سور دے

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



لا دې دَ بام په سر په لېچو بنګړي شور نۀ کوي
ځکه مې ستا د کوڅې کاڼي په سر اور نۀ کوي

دوخت قيدي د زنځير شرنګه ځان نورمۀ شوروه
هيڅوک د دار تماشه تا باندې په زور نۀ کوي

ستا د قاتل نظر نه وحشت چرته کښې لاړ
د بڼو غشي دې زما په زړۀ ټکور نۀ کوي

خلق په يو بل پسې پلونه په سپوږمۍ لټوي
د تا زړې سترګې کاڼۀ په نوي لور نۀ کوي

د ديدن لوبه مازيګر د چم په سر توده کړه
ځان لېونۍ کړه ليونو ته څوک پېغور نۀ کوي

د اقرار لاش به د ارمان په اوږو څو ګرځوې
مړي ژوندي خلق د مړو سره کور نه کوي

Pukhto.Net

www.pukhto.net



د بلال حوره ده ښېسته کۀ د يوسف زليخه
د عقيدت مينه تپوس د سپين او تور نۀ کوي

ماته تور غر او مالاکنډ د مور يوه غېږه ده
زرين پښتون دے او پښتون تقسيم د مور نۀ کوي

---

## سړے

چې ظاهر او باطن يو وي ښۀ سړے دے
چې کړې يو او وائي بله نۀ سړے دے
سړے هغه چې د بل په چاره راشي
ځان دپاره کۀ سړے دے څۀ سړے دے

---

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

# فطرت

ژوند حسن ځوانی غواړی
شوخ او شنګ مستی غواړی
سترګې دې کاجل اشنا
شونډې دې سُرخی غواړی
کوکې دې دَ ګلو رنګ
زلفې دې سپرلی غواړی
پښې دې دَ پائیلو شور
لېچې دې بنګړی غواړی
چال له دَ هوسۍ سره
هر قدم سيالی غواړی
ښکلو منظرونو له
سرهٔ مازيګری غواړی
ګرمې دَ ګودر غاړې
پېغلې او منګی غواړی
حسن دَ رنګونو نوم
سر څنه کالی غواړی

www.pukhto.net

مینه د سر لوبه ده
ډېره زړۀ وری غواړی
تش په سترګو جنګ نۀ شی
مینه قربانۍ غواړی
مینه داؤ د وینې دے
دې له لېونی غواړی
څوک دَ خدائے خدائی غواړی
څوک بت پرستی غواړی
څوک دَ فرعون په شان
وخت باندې خدائی غواړی
څوک لکه موسیٰ په طور
یار نه دلداری غواړی
سترګې د جانان ، مئین
ډېرې قریبی غواړی
ښکلے بلقیسی حسن
تخت سلېمانی غواړی
تخت د سلېمان په ځان
زلفې بلقیسی غواړی

Pukhto.Net

www.pukhto.net



ظلم باندې ظلم له
فکر نمرودی غواړی
اور ته ور دننګلو له
عشق ابراهیمی غواړی
مړو راپاسؤلو له
حکم مسیحی غواړی
زړونو ګرمؤلو له
چغه حیدری غواړی
عرش ته دِ پښو سره
تلل پیغمبری غواړی
علم او دانش سخن
ډېره سرخُوږی غواړی
پوهه درناوے عزت
ډېره سنجیدګی غواړی
نوم ګټل په ډېر عقل
خرچ او مالداری غواړی
ځان ګټل په ډېر علم
پوهه خاکساری غواړی

www.pukhto.net



څوک په اولسی خدمت
خپله نېک نامی غواړی
څوک د سیاست په نوم
وینه اولسی غواړی
هره خام خیالی جهل
خپله سر زوری غواړی
تُورې او مړانې له
لږه ناپوهی غواړی
هر شتهٔمن غریب باندې
خپله لوئې چاری غواړی
هر غریب شتهٔمن سړے
څهٔ نا څهٔ سخی غواړی
کم عمر کچه ځوانی
شور او چالاکی غواړی
پوخ عمر او پوخ ذهن
لږه خاموشی غواړی
غم ښادی تنها نهٔ شی
زیست عزیزولی غواړی

Pukhto.Net

www.pukhto.net

زیست عزیزولۍ لره
کلے کلیغی غواړی
ښځې باندې هر سړے
کور حکمرانی غواړی
ښځه د خاوند مینه
واک د نغری غواړی
مور په دعاګانو کښې
ځوئ له باچاهی غواړی
هر اولاد خپل مور او پلار
دواړه جنتی غواړی
ځنې ډېر د خُلې پاسته
هر ځائے کښې یاری غواړی
ځنې ډېر د خُلې نه خلاص
هر ځائے دښمنی غواړی
چا سره دوستی کؤل
ډېره مخلصی غواړی
تار د یارانۍ تړل
ډېره ګټکاری غواړی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

هر سړے د کلی موړ
خپله مشری غواړی
نن سبا په کلو کښې
هر سړے خانی غواړی
څوک په مرګ رضا نهٔ دے
هر څوک ژوندګی غواړی
ډیر کهٔ حقیقت دے مرګ
ژوند ترې ازادی غواړی
دا دوه نیمې ورځې ژوند
مونږ نه خوشحالی غواړی
یو تل سره هر قدم
مینه خوا خوږی غواړی
یه زرینه ښهٔ فطرت
ښهٔ خوئی فطرتی غواړی
دے دا د فطرت قانون
ګل سره ازغی غواړی

---

www.pukhto.net



# ښائیست

بنګړی په لیچو باندې اوشوروه
چې په دې ټول کلی کښې شور اولګی
چې دا پخې ماښی راؤنړیږی
په دې کچه جونګړو اور اولګی

د نوی نوی پېغلتوب نازونه
په زړونو لوبې لمغړې کوی ښئ
ځان کړه سمبال نوې جامه واچوه
شونډې د سرې کړه چې لمبې کوی ښئ
پړونے وتړه د سترګو لاندې
سترګې که تورې چې حملې کوی ښئ
د ښو غشی دې را ؤوروه
چې مې په خُوږ زړګی ټکور ؤلګی

لکه په واوری ښاخکی وینه
په اننګو کښې د سرخی رنګونه
په ګلګونی مخ خورې زلفې لکه
د سپرلی شپه کښې د سپوږمۍ رنګونه

www.pukhto.net



چې غر غړیز نمر مازیګر کړی خوارهٔ
په کائنات د زندګۍ رنګونه
لمدی لمدی زلفې راؤشښنوه
چې خوشبویانې په هر لور ؤلګی

د پړ عمر ؤشو چې چا سر مات نهٔ کړو
وینې په دې کوڅو کښې توې نهٔ شولې
هیڅوک مجنون په کاڼو وېنهٔ لګېد
د چا لیلا زلفې خورې نهٔ شولې
د ادم خان په سُر ساز کړی رباب
د درخانۍ ټپې تودې نهٔ شولې
راشه سندره شه را ؤرېږه
چې د محفلو تنګ ټکور اولګی

د سترګو لاندې زاته ټیټ اوګوره
سرهٔ په حیا کړه ول په ول اننګی
سترګې چې سترګو سره اوجنګیږی
کړه په خندا ډوغل ډوغل اننګی
د زلفو دام ورباندې اوغوړوه

نوټ - باقي په صفحه نمبر 64 وګورئ

Pukhto.Net

www.pukhto.net



په ما د ظلم انتها غواړی
ځکه زما د ژوند دعا غواړی

د ځوانۍ چم باندې د مینې لوبه
سترګوکښې شور زړهٔ کښې غوغا غواړی

مینه په عقل نهٔ په زړونو کيږی
نهٔ مصلحت او نهٔ سلا غواړی

ستا د لورينو لوبونکو جذبو
زړهٔ مې ماشوم خپله انا غواړی

لمبه لمبه مې شو د زړهٔ لاله زار
ستا د اوربل د څنډ هوا غواړی

رېښتنې مينې له روڼ زړهٔ زرينه
د آئينې غوندې صفا غواړی

www.pukhto.net



د نظر باز ته مې کړه چل اننګی
سر په اقرار زرین ته اوښنډوه
چې تور اوربل دې په مخ خور اولګی
چې دا پخې ماښې راؤنړیږی
په دې کچه جونګړو اور ؤلګی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



ژوند یوه لمحه وه څومره زر تر زره تېروتهٔ
نمر د مازیګر ؤ لاړه د غر د سره تېروتهٔ

وخته اوښکې اوښکې غرېو نیولے هرارمان زما
ستا د سرحدونو نه په ویره ویره تېروتهٔ

زړهٔ مې لېونے پښتون د شین کاڼی نه سخت ؤخو
ستا قاتل نظر ترې ښکته بره تېروتهٔ

مینه حقیقی کهٔ مجازی ده مینه مینه ده
بې د مینې ژوند څنګه په تا کافره تېروتهٔ

عشقه لېونتوب ؤ ستا په لار د زلمیتوب سفر
ستا په ګړنګونو ډک د شورو شره تېروتهٔ

نه زرین اظهار د محبت اوکړو نه تا اقرار
غلے غلے ستا کوڅه کښې ستا د دره تېروتهٔ

---

www.pukhto.net

جام چې راکوی ساقی پکښې شونډې ککړې کړی
دا تروې ترخې اوبهٔ خوږې لکه د ګړې کړی

ګوره دوه رنګی مې د معصوم ساده جانان
شونډو باندې امن غواړی سترګوکښې جګړې کړی

چاته لونګین کړی په مری چاته زندی د مرګ
چاته په مخ دام او چاته دار تاؤ کړې ځښې کړی

زهٔ ورکښې سرې شونډې تورې سترګې د جانان وینم
سرې دې غنم رنګې کړی خدائے تورې دِ کرورې کړی

مهٔ یې توروه نهٔ پرې بانهٔ برندوه هسې هم
مَړی دې مړې مړې سترګې په مړهٔ مړهٔ کاتهٔ مړې کړی

تش په سترې مهٔ شې دیو ګران میلمه خاطر نهٔشی
پاسه غاړه راکړه مئین داسې ګړې برې کړی

www.pukhto.net



ستا دا بارودی لمبه لمبه امریکنے نظر
دا د زړۀ کابل مې هسې نۀ چې دړې وړې کړی

کله کله خړ سیلاب زرینه رڼوی جانان
کله کله هیخ بې هېڅه سپینې اوبۀ خړې کړی

---

Pukhto.Net
پښتو

.........................................................

(۱) غنم رنگی ـ د بټگرام د سیمې یو غرئیز بوټے چې سرې سرې دانې د غنمو د دانو غوندې وی او ډېرې خوږې وی، خلق یې خوری

(۲) کروړې ـ دا هم یو غرئیز بوټے دے چې تورې دانې کوی. خلق یې خوری.

www.pukhto.net



ځواني جذبې مۀ ځنډوه په دې اعتبار نۀ وی
په داسې عمر کښې په زړۀ باندې اختيار نۀ وی

د کلي والو ښائيستونه خسمانه نۀ غواړی
په ګل ښهونو کښې ګلونه وی ماليار نۀ وی

واورين يخ يخ سپينکے ښائيست به زړونه څۀ ګرم کړی
چې شونډې اور نۀ کوی سترګو کښې انګار نۀ وی

مينه د سُود او زيان په تله چا تللې نۀ ده
څوک چې مئين شی بيا په سر او مال ايسار نه وی

پيرزو په بل ذومره کوه چې بدعادته نۀ شی
سبا به ستا لاسو ته ګوری ستا به چار نۀ وی

پلار اخر پلار دے د ژوندون تجربو پوهنتون
خو ضروری نۀ ده چې ځوے به ترې هوښيار نۀ وی

د سوال غوختلې شَمله سر تخنوی مۀ يې تړ
د بوډۍ ځويه چې دِ پښو باندې پائزار نۀ وی

www.pukhto.net



نرمي ده ښه خو دومره نه چې سر زوري جوړه کړي
هلته ادب نه وي چې کوم ځائې کښې ګزار نه وي

دا د سيالۍ خر به دې پړ مخې راؤغورځوي
اس نه وي هره سورلي هر څوک شهسوار نه وي

د اننګوړي ، ګل نمېرو په رنګ مه تيروځه
هر ګل ګلاب نه وي هر غونډه سور شي انار نه وي

سرهغه سر د دار په سر چې وي هسک ځيرې سترګې
سرونه ډېر دي خو هر سر سر د سردار نه وي

زرينه ژوند چې خود غرض ماده پرست شي نو بيا
خواره ياران خوږو يارانو ته اوزګار نه وي

Pukhto.Net

www.pukhto.net



مسافر مۀ وژنې خاونده ـــــ په ځنکدن کښې د وطن ارمان کوینه

# د مسافر مرګ

د روڼ سحر کتو ته شپه نیمګړې پاتې شوله
د سترې ژوند سترې قیصه نیمګړې پاتې شوله

ارمانی ژوند د خواهشونو غبږ کښې سا ورکړله
هره ارزو هره اسره نیمګړې پاتې شوله

ازغن ازغن منزل پسې شول وینې وینې پلونه
په لاره لاره قافله نیمګړې پاتې شوله

دګل ښائیسته ځوانی په خوشی دشت کښې اوریژېده
زلفو ته اوښۀ رسېده نیمګړې پاتې شوله

د زول په شپه د لېونی د دشت تپه زرینه
په بربوقو کښې تاوېده نیمګړې پاتې شوله

---

دخپل کشر ورور عظیم خان د ځوانۍ په مرګ چې سعودی عرب ته مزدوری له تلے ؤ. درې میاشتې پس د ریاض ښار نه مکې مکرمې ته د عمرې د پاره ګاډی کښې روان ؤ چې ایکسیډنټ اوشو او هغه مړشو.

www.pukhto.net



## تنقید

یو تنقید دے د اصلاح د پاره کیږی
ښۀ ته ښۀ او بد ته بد پکښې وئیل دی
یو تنقیص د خود نما ذهن انا ده
ځان په بل باندې منل بل نامنل دی

---

## د امریکې نه یو تپوس

که زۀ له بده مرغه اوړے یم یو ډر خرځۀم
په دغه زهرو کهۀ څوک مری مرګ یې زما په غاړه
ستا په بارودو توغندو ایټم دنیا اوسوله
چې کور په کور وینې بهیږی دا د چا په غاړه

---

## او بیا لائن کټ شو

جم جاکړ شو هوا راغله لائن کټ شو
د بوټانو تقا راغله لائن کټ شو
د جمهور جمهوریت یې یو نوړے کړو
تکه توره بلا راغله لائن کټ شو

—— د مشرف د مارشل لاء په راتګ ——

Pukhto.Net

www.pukhto.net



## زاړهٔ یادونه

لیلیٰ الفلاح (د لیلیٰ په کلی کښې)

نُور په کاڼو اُوْلی، رڼا په کاڼو اوْلئ
ګل ګملو کښې قید کړئ او بوړا په کاڼو اوْلئ

ځئ چې دې کوڅو کښې بیا زړه لوبه راګرمه کړو
یه د کلی خلقو اوځئ ما په کاڼو اولئ

---

Pukhto.Net
پښتو

## علاج

څړیکې د دړد چې د پرهره اوځی
لکه د شور چغې د شره اوځی
څم ماتوم ئې د ارمان کوڅه کښې
د عشق نشه به مې د سره اوځی

---

www.pukhto.net



## د غفلت خوب

(۸ اکتوبر ۲۰۰۵ زلزله)

ما وئیل خوب راځی کټ مۀ خوځوه
تۀ به نن بیا وائې غرمه ده پاسه
هغې د ورنه بهر چغه کړله
دنیا ورانیږی زلزله ده پاسه

---

Pukhto.Net
پښتو

## اوس خو راځه کنه:

(۸ اکتوبر ۲۰۰۵ زلزله)

زلزله راغله تۀ رانغلې اشنا
کلے شو وران مونږ په بارو کښې اوسو
تا به وئیل ما له کوچیانې ښې شی
اوس خو راځه کنه خیمو کښې اوسو

---

www.pukhto.net

بیا دې یادونو پخوانو په غېږ کښې واخستمه
لکه د ژمې نمر غرمو په غېږ کښې، واخستمه

شپه شوه د هجر په څنګل مې شوګېر سر کېښودهٔ
بیا دِ خوږو خوږو قیصو په غېږ کښې واخستمه

اول دې ګل ګل سترګې ورو ورو راته واړولې
بیا دې ازغو ازغو ښویه غېږ کښې واخستمه

د ښائستونو مازیګر دیدن ورین بامونه
بیا منظرونو تماشو په غېږ کښې واخستمه

د زړهٔ درزا مې د بنګړو په شڼ سندره شوله
تا چې د لیچو د تالو په غېږ کښې واخستمه

د پښتونخواه حسن د جهیل سیف الملوک په غاړه
لکه ملوک خپلې بدرو په غېږ کښې واخستمه

---

www.pukhto.net



چرته یې ږوینځلې زلفې بیا یې اوښندلې
ځکه لمدو لمدو وږمو په غېږ کښې واخستمه

واورین واورین موسم زرینه د ښښترو شغا
د اباسین چپو چپو په غېږ کښې واخستمه

---

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

تا کۀ زما په ارمانونو مېندې بورې کړلې
ما د خپل خوږ زړګی د درد ځړیکې سندرې کړلې

وخت د حالات ځُله که د جبر په تار ؤګنډله
ما ورله سترګې خبرلوڅې ژبه ورې کړلې

ژوند په قدم قدم بلد کړم د ډغرو سره
زما کمزورې ارادې یې زورورې کړلې

ځار د ترخې ماضۍ پیکه پیکه یادونو نه ځار
د مستقبل ټولې لمحې یې خوندورې کړلې

څۀ ځوانۍ مرګو خواهشونو د ځوانۍ په غرور
څۀ د وختونو حادثو د ما نه لرې کړلې

اوس دې دَ سترګو پېچ وخم کښې هغه تاب نشته دے
په یو نظر به دې دَ زړۀ مانۍ کنډرې کړلې

www.pukhto.net



اول بې قدرو مې په کاڼو ویشهٔ فن زرینه
اوس قدردانو راپسې جوړې سنګرې کړلې

ځار پښتون عشقه چې په خاورو دې پرزو نهٔ کړلې
د زرین اوښکې دِ ښو کښې ملغلرې کړلې

---

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



چرته چې ستا د قدم لاندې ګل کېدل ګردونه
په هغه پلونو دې جانانه واؤختېدل ګردونه

هغه خاورین خاورین کورونه خړې خړې کوڅې
یادکړه چې مونږ پکښې په یو بل به ویشتل ګردونه

چې ما او تا تراشلی وو د کاڼي په مخ
د ژوند په هغه تصویرونو ؤختل ګردونه

زړهٔ مې لاوس هم ستا په نوم دانګی چې وائې ورمه
کهٔ په زړو یادونو ډېر دې پرېوتل ګردونه

چې ورته تهٔ راغلې د تیا سره سپرلی هم راغلل
زما د زړهٔ اوچې صحرا کښې الوتل ګردونه

د وخت طوفان کښې د حالاتو پته نهٔ لګیده
هله خبر شوم چې چاپېره کښېناستل ګردونه

www.pukhto.net



دغه چې در په در اوس ګرځم په سر خاورې نولم
زۀ چې ماشوم ووم ما به ډېر ډيرى کوُل ګردونه

ما چې د چا په لار ګلونه ورشيندل زرينه
هم هغه خلقو مې په مخ ؤغورځول ګردونه

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

# ښارونه

څومره هنګامې دی شور او شر دے په ښارونو کښې
څومره ژوند په منډه منډه سر دے په ښارونو کښې

مخکښې به په کلو کښې شینګرې وې او مورچې د جنګ
نن سبا کوڅه کوڅه سنګر دے په ښارونو کښې

نۀ څوک د چا غم باندې غمژن نۀ په ښادۍ ښادمن
نۀ د چا شوقدر نه اختر دے په ښارونو کښې

ښۀ اشنا به ځان کړې نا اشنا او په خوا تېروځې
هر سړے د بل نه مرؤر دے په ښارونو کښې

حسن د ځوانۍ پسې مو سترګې، سترګې سترګې شی
اوړے هر يو زړۀ تږے نظر دے په ښارونو کښې

چرته اژدهام چرته لښکر چرته تپه تپه
سم د بنيادمو سمندر دے په ښارونو کښې

www.pukhto.net

هغه پکښې پوهه دي د ژوند د کاميابۍ په راز
چا څخه چې علم او هنر دے په ښارونو کښې

اس او خر څوک نهٔ ګوري بس کته او کاټې ګوري
نهٔ سړے زرينه معتبر دے په ښارونو کښې

Pukhto.Net
پښتو

 www.pukhto.net

وژل کوی خونخواری قاتلانې راپسې شوې
ستا تورې تورې سترګې بلاګانې راپسې شوې

زما ساده زړګے خو د ساده حسن قائل ؤ
دا کومې دلفریبې اداګانی راپسې شوې

چې تۀ ئې په سجدو کښې لټوې ماجام کښې ؤليد
زاهده د رندانو دعاګانې راپسې شوې

څۀ ستا شوکمارې سترګې لګوی مې په زړۀ نوکې
څۀ خپلې د مئين زړۀ کمزوريانې راپسې شوې

واړۀ به د يو بل نه ځاربدلو چې اوس لوئې شو
رسمونه رواجونه مجبوريانې راپسې شوې

څه خپل بې وسه ژوند مسافری مې دا زړۀ ؤخوړ
څۀ ستا د خوږې مينې ارزوګانې راپسې شوې

زرينه هسکه غاړه ګرځېدم په هسکو سترګو
د چا سپېرې ښېرې او ژړاګانې راپسې شوې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

# ليکوال

مونږه دوخت د مصلحت د لاندې سا نۀ اخلو
که چا سره وی هم تعلق خبره نېغه کوُو
مونږ د هيچا نه نۀ ويرېږو بې د خپل ضميره
د دغې ويرې نه د حق خبره نېغه کوُو

---

# کم ظرفی

څوک په کنځلو توده وی محفلې
څوک په دروغو خوږه وی محفلې
ځنې کم ظرفی په ځان نۀ پوهېږی
خلق پرې ځان له جوړه وی محفلې

---

www.pukhto.net



# د وطن یو خوږ احساس

چرته نیږدې په ګل بڼونو باران ؤوریدۀ
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را اوشیندلې

په دې شګلن شګلن ماحول کښې د کجورو سیلۍ
د سحر باد ورسره راوړه د نښترو سیلۍ
د غنم رنګو د ممانړو د ګرګرو سیلۍ
د پښتونخواه په دنګو غرونو باران اووریدۀ
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را اوشیندلې

ګلِ نرګس د چا مئین په قبر ؤژړیدل
کۀ د چا پیغلې په کمڅو کښې ګلاب ؤخندیدل
کۀ په پټو کښې د شړشم ګلونه ؤریژیدل
کۀ د کیکرو په ګلونو باران ؤوریدۀ
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را ؤشیندلې

لکه د جهیل سیف الملوک د سر واورین بادونه
لکه د چیل غر او د تور غر نښترین بادونه
یا د پکلۍ د مرغزارو ګلورین بادونه

www.pukhto.net



د هزارې په چنارونو باران ؤورېدو
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را ؤشیندلې

د دیر د سوات او د بنیر د بنائیستونو غرونه
د مرغزار کالام ایلم د بهارونو غرونه
د زمردو ملغلرو د لعلونو غرونه
د مالاکنډ په کنډؤنو باران ؤورېدو
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را اوشیندلې

کۀ د وطن په جنګ کښې سرې شوې د خیبر سنګرې
د پېښور د تاترې او د ټکر سنګرې
د قام پرستو پښتنو د اشنغر سنګرې
د اکوړې په مېدانونو باران ؤورېدۀ
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را ؤشیندلې

د اباسین په غاړه غاړه کشمالی ګلونه
د سر دریاب په پوله پوله غاټولی ګلونه
یا د ننديارړ د غورځنګونو بنفشی ګلونه
کۀ نۀ د عطرو په سیندونو باران ؤورېدۀ
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را ؤشیندلې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



هغه په سرو شونډو نرۍ نرۍ خندا زرينه
هغه خوږه خوږه د ميني مشعله زرينه
چې به جانان جانان وئيل راته اشنا زرينه
نن مې په زړۀ بيا د يادونو باران ؤوريدو
کۀ مې جانان لمدې لمدې زلفې را ؤشيندلې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



توقې مې کؤلې په رښتیا دې اوښکې ښکښې شولې
اوس هم ماله ښېښې تۀ هم مخکښې ماله ښې شولې

تا چې په سرو شونډو د اقرار لفظونه ؤسپړدل
داسې لکه پاڼې پاڼې ګل نۀ پاڼې توې شولې

تا چې سترګې تورې شونډې سرې کړې نو ما چغه کړه
تورې شوې کروړې غنم رنګې تکې سرې شولې

تا د اننګو په مزکه بیا ګلاب کرلی دی
څګه لولکۍ مې د نظر پرې ورخورې شولې

څوک بیا د بابا په بهانه جانان ته تلې ده
بیا سم د ماښامه په زیارت کښې ډیوې مړې شولې

لاندې ترې محفلې باندې شور پرې د مرغو به ؤ
غوخ شول چنارونه نو حجرې سړې سړې شولې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



ما درته جانان ووې جانانه په دې تکی کښې
ځومره بلها اور ؤ چې پرې ته خولې خولې شولې .

ما زرین که ډیر څه درته ووئیل خو هر څۀ نه
مینه د اظهار ژبه پرهیزی ته ښۀ پوئې شولې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



# مینه د دار په سر

وضاحت: (د یوې جرګې په فیصله
د دوو مئینانو سرِ عام په چارمارۍ باندې)

ستړو پړاؤنو د مرام غبږه کښې سا ورکړه
ژوند د بې کسۍ د اژدهام غېږه کښې سا ورکړه

حورې او غلمان به د جنت ګلان پرې وشیندي
چا چې د ظالم کافر نظام غېږه کښې سا ورکړه

وینې د آسمان په کنارو د ناوې توې کړې چا
سُور سالو تار تار د سکڼ ماښام غېږه کښې سا ورکړه

مړه به وه مرغۍ خو تاب د سترګو د ښکارۍ ګوره
دۀ ورته کاتۀ هغې د دام غېږه کښې سا ورکړه

مرګ د ځوانۍ مرګ خبره نۀ ده چې پرې زۀ ژاړم
مینې لیونۍ د خپل انجام غېږه کښې سا ورکړه

www.pukhto.net



ښکل به مېخانه کښې دې د خود د خودسرۍ په زيار
نۀ ده مېخوارې کۀ جام دجام په غېږ کښې سا ورکړه

نۀ پرې چېل ايلم خوړ شو او نۀ پرې خېبر ډکوانبېد
بې اسرو جذبو چې د باګرام غېږه کښې سا ورکړه

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



## وېش

په نصیب کښې د چا تخت د چا تخته وی
څوک جونګړه نۀ لری د چا بنګله وی
څوک شراب کباب شباب کښې شپه سبا کړی
د چا اوږې د بلې د لاندې شپه وی
خدایه ستا خوښه ده اُف کولے نۀ شم
څه به خُلۀ وی د هغۀ چې ستا بنده وی
خو یوه خبره وائیم نۀ ئېنګیږم
ستا پرې څۀ کۀ دا دنیا ټوله مړه وی

Pukhto.Net
پښتو

## زما عمر

لا د هلکانو سره تللے شم
لوبې محفلونه تودولے شم
لاړه کۀ ځوانی مې لا بوډا نۀ یم
تار د ستنې سُم کښې اچولے شم

www.pukhto.net

## ګپيان

د کلي يخ چنار د سيوری لاندې
ناسته کوی د وخت ردی پښتانهٔ
يوئې ګټي آو ،لس يې خوری زرينه
څنګه به وکړی ترقی پښتانهٔ

---

## خود غرضي

چا چې خپل ذاتي مطلب نلکي سره ترلے دے
پرے د نظام يې کلک د پښې سره ترلے دے
څنګه اولسی سوچ ئې د ذهن کور ته ننوځي
سيے ئې د غرض د دروازې سره ترلے دے

---

## شُوم

چې په شتهٔ دولت کښې اوږے خوار و زار دے
لکه ناست چې خزانه باندې ښامار دے
مال دولت به په قسمت وی پريشانه
ګنې ستا د شخصيت سره پکار دے

---

www.pukhto.net

# ښېپماني

ما وېړه يارى نه دې توبه ؤباسم
دا مې د زړۀ سره جرګه وکړله
د جدائيي خوف دې راؤ وريدۀ
زر د توبې نه مې توبه وکړله

د ښېپمانئ اذيت ناکې ګهړى
د ژوند په څرخ چورلېدلې نۀ شوې
د غېر يقينه کېفيت ارادې
د فيصلې په غر ختلې نۀ شوې
لکه په ما د قبر سوال او جواب
عذاب عذاب لمحه لمحه تېره شوه
کۀ څوک قيامت د مرګ نه مخکښې وينى
ما ئې په ژوند مشاهده وکړله

بغېر د مينې زندګى ګرانه ده
بغېر له تانه ژوند کښې سا نشته دے
ستا په وجود دا کائنات ښکلے دے
تانه بغېر پکښې ښکلا نشته دے

www.pukhto.net



د ښائستونو د رنګونو دنیا
په ښکلو ښکلو ښکلې ښکلې لګی
ښکلیه په هر انداز مې ؤلېدلې
تا کۀ له ما ډېره پړده وکړله

زۀ مُلا نه یم چې پټکے اوتړم
تا یادؤم اوکے دانې واخلمه
ستا د محراب او د منبر په بدل
د مقتدیانو سرسائې واخلمه
قسم دے ستا مینه به ؤنۀ تلم
د جنتی حورو غلمانو سره
نه به مئین نه به پښتون یمه زۀ
که ما له تانه دا اسره وکړله

ستا د دوزخ غمونو نه ځار
ما ترې لوګے کړه د نظره نۀ شې
ستا د جنت جنت دیدن په طمع
د دوزخونو نه مې وېره نۀ شی
زۀ په رېښتیا تاسره مینه کؤم
رېښتنې مینه رد کېدلے نۀ شی

www.pukhto.net



که د یو زړهٔ نه بل ته لاړ تلی وی
ما پرې د تللو اراده وکړله

کهٔ زمونږ مینځ کښې فاصلې ډېرې دی
د مزلونو دی د زړونو نهٔ دی
زمونږ په مینځ دبیلتانهٔ خندونه
د مینې دی د نفرتونو نهٔ دی
چرته کښې تهٔ چرته زرینه جانانه
تهٔ په آسمان اوزهٔ په مزکه اوسم
دا فاصلې مونږ بیلؤلے نهٔ شی
کهٔ مو په مینې فیصله وکړله

Pukhto Net
پښتو نېټ

www.pukhto.net



د وخت په غېږ کښې مې د زړۀ نبضونه سا ورنۀ کړي
ستا په ښکالو کښې د پانزېب شرنګونه سا ورنۀ کړي

زما د سترې انتظار د شوګيرې په خاطر
د خوب ځنګل باندې د تا لوظونه سا ور نۀ کړي

ستا د راتګ د بړبنونکې شومه دم په غېږ کښې
د غوږ سارنې کائنات رنګونه سا ور نۀ کړي

هغه چې ما تاؤ جوړ کړے د ښښتر اونۀ کښې
په هغه مړ زړۀ کښې د ژوند رازونه سا ور نۀ کړي

ستا د ديدن په دې کاريز کاريز سفر محبوبې
زخمي زخمي مې وينې وينې پلونه سا ور نۀ کړي

زما اظهار او ستا اقرار دواړه د شونډو په سر
د فاصلو په ضبط بې واکه زړونه سا ور نۀ کړي

هغه چې تا ليدل او ما ئې تعبيرونه ويستل
هغه خواږه رنګين خوبونه سا ورنۀ کړي

www.pukhto.net



د بنګړو شڼ دِ ټکنی کړي د وختونو لمحې
د چُپ په څاؤ کښې ټکنی بادونه سا ورنهٔ کړی

د ملاقات مستی د خُود واکې شلوی زرینه
د سپوږمی شپه ده د شرشم ګلونه سا ورنهٔ کړی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

هغه خاورین خاورین منظر د کلي
ډېر مې یادېږي مازیګر د کلي

د پښتنې تهذیب سوچه نمونې
زموږ حجره جمات منبر د کلي

هغه زموږ د لوئې والۍ شاهدان
چنار چنار ښښتر ښښتر د کلي

هغه ګجرې کمڅۍ بنګړي نکریزې
زموږ ساده ساده اختر د کلي

خوږې خوږې تودې تودې پلوشې
پِتاؤ پِتاؤ د ژمي نمر د کلي

سړې سړې غرمې خاموشه کوڅې
په سکڼ ماښام کښې تود ګودر د کلي

خفه خفه د ژمي یخ پشمنی
د روژې هر ماښام اختر د کلي

www.pukhto.net



لمبه لمبه حسن او مینه مینه
هغه جانان جانان نظر د کلی

د ښار سپین دربو د مړو نه ښکلی
زمونږ خیرن خیرن نهر د کلی

په ښتهٔ وطن کښې در په در نصیبه
ګرځوو مونږ کډې په سر د کلی

عمر مې ټول په ښاریو کښې تیر کړو
زړینه هیڅ نهٔ شوم خبر د کلی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



مُسکی یې ولونه اننګو کښې تاوېدل
خندا وه کۀ ګلونه په لمبو کښې تاوېدل

سپرلی سپرلی ښائیست کښې یې ګلاب ګلاب ځوانی
د حسن بوراګان ئې په کمځو کښې تاوېدل

بې نیازه بې پرواه په بام ولاړه لکه ګل
د ګلو قدردان ورته کوځو کښې تاوېدل

پټ پټ په کړ لېچونو کښې د مینې پټ پټون
د سترګو غلچکی ئې په ککو کښې تاوېدل

دا ځوک ؤ لېونے رېښې رېښې ځیرې ګرېوان
پرونی ستروند ورته بنګلو کښې تاوېدل

د سترګو خمارونه دې کاځو کښې ځځؤل
ساقی ځکه رندان درته په پښو کښې تاوېدل

د ترهنده نظر یې ترهېدلی اورکی
تنځری لکه جنګ پسې پنجرو کښې تاوېدل

www.pukhto.net



زرینه ځان سره په ترنم کښې ګوښېده
سازونه د بنګړو ئې په نغمو کښې تاوېدل

---

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



ۀخانده جانانه خنداګانې په شا واړوه
تسنې وسنې زلفې ورانې ورانې په شا واړوه

سرې شونډې سرۀ سرۀ ګلاب سپین سپین اننګې سپین ګلاب
ۀشینده رنګونه ښکلاګانې په شا واړوه

راشه د نشې نشه په سر د نشې ماته کړه
جام په ګډا سر کړه بې خودیانې په شا واړوه

ځار د یار خواهشه چې زاهد تهجد ګزار دې کړم
ۀخانده سجدو کښې ژړاګانې په شا واړوه

ستا د پښو د لاندې جنت تۀ ئې د جنت مېرمن
ۀخندوه حورې ګل خوبانې په شا واړوه

سپینه واوره سپینه سپوږمۍ سپین د ستورو ډک اسمان
راشه مخ څرګند کړه رڼاګانې په شا واړوه

ۀوایه زرین ته خدائے دې ما باندې بدنامه کړه
ماته ښېرې ۀکړه دعاګانې په شا واړوه

www.pukhto.net



دا چې تمامه ورځ تسبې اړوی
هسې په نورو خلقو پښې اړوی

د ژوند ردی محراب کښې ناست .د جنت
اوس په آخره کښې قرضې اړوی

دا چې زمزم په مونږ د ورځې وېشی
دۀ ته ساقی د شپې کاسې اړوی

واعظ د نن اورې ته څنګ د سبا
د مړې خېټې فلسفې اړوې

ستړی مزدور ته یو دمه دمه شېخ
د جنت ګرانې مسئلې اړوی

د کوڅې ملا زړۀ یارانې ته اوشو
د ګاونډی په لور روژې اړوی

د جمات چنې دغه څوک سپین ګیرے
شپې په دېوال د مېکدې اړوی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



شهید په ګل ګل بچو پښې کېښودې
ځې ځان له حوره په اوږې اړوی

په چا به ښهٔ په چا به بدې لګی
زرین رېښتینې معمې اړوی

لکه شپیلۍ د ژوند په دشته زرین
خپل د تنها ژوندون تپې اړوی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



## د لړې نه يږه

زموږ وړې وړې کينې ترېگنۍ
د نفرتونو په اور مينې سيزی
اور په نری غوندې تيلی لگی خو
لمبه شی لوئيې لوئيې ؤونې سيزی

---

## خاموشی ښۀ ده

مونږه پخپله ځان ته اور ؤکړو
چې مړه وو بيا مو لاسونه سيزی
خبره وړاندې أو سوچ وورستو کړو
د توپ نه ؤتې گولۍ غړونه سيزی

---

 www.pukhto.net

# شړونکے

(د یو شاعر د غزل په مزکه)

بیا څوک سر په سجده شو د زندان په دروازه کښې
خپل ځان ورته کټل حېران حېران په دروازه کښې
دا څوک ؤ ابراهیم چې د ازر بُتان ئې مات کړل
نۀ پاتې هغه در شو نۀ دربان په دروازه کښې
دا څوک بیا کفاره ورکوی خپل د ګناهونو
تلی د سرو او سپینو سره ځان په دروازه کښې
دا څوک د ارمانی ژوند نه د مرګ خېرونه غواړی
نیولې یې جولۍ ده د ارمان په دروازه کښې
په یو ګزار د پیو د مجنون مستی اوبۀ شوه
رېبنې رېبنې ترې پاتې شو ګریوان په دروازه کښې
هغه چې ئې پخه وه نظریه وطن پرسته
تار تار ئې عقیده شوه د ایمان په دروازه کښې
پرون یې په سر تاج ؤ نن ئې کند کچکول په غاړه
عبرت ته تماشه شو د دوران په دروازه کښې

www.pukhto.net



زرینه زما سر دې دَ هغې سر نه قربان شی
چې تیتہ نۂ شی اوغوخ شی دجانان په دروازه کښې

---

(وضاحت۔ د نواز شریف پاکستان پرېښودل او سعودی عرب ته
د تلو د سودا په وخت مې لیکلے دے)

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net

د ګل نزاکتونه ګل خوبان ته نۀ رسيږی
هر څو کۀ ګل ښائيسته شی خو جانان ته نۀ رسيږی

د خاورو جوړ ادم ته **ملائك** سر په سجده شول
انسان کۀ فرښته شی خو انسان ته نۀ رسيږی

ګل دشتې ګل ښونه سپين خوړونه شنۀ سيندونه
د يو وطن ښائيست پښتونستان ته نۀ رسيږی

خواران دی سادګان دی پښتانۀ بې اتفاقه
په دين سخا په ننګ کښې څوک افغان ته نۀ رسيږی

سرکشه سرزوری مۀ کړه د سر د پاسه سر وی
دا غرونه که ډېر دنګ دی خو آسمان ته نۀ رسيږی

ليډره د جلوس په زنده باد خلقو له وژنې
ستا چغه تر ايوانه ده زندان ته نۀ رسيږی

پړقيږی اورکے زرينه بره بره خيژی
نرے غوندې چينجے دے کهکشان ته نۀ رسيږی

---

www.pukhto.net



# ایټمي چاؤدنې

په ګل درو کښې ګل مخونه په لمبو کښې اوسي
خوشبو د زلفو د بارودو په لوګو کښې اوسي

څوک چې خلا کښې لټوي ژوند د هغوی د لاسه
ژوند ددې مزکې په بمونو توغندو کښې اوسي

ږوَ د رڼا سوداګرانو د سپوږمۍ ؤسونکو
ستاسو د لاندې خلق اوس هم په تیارو کښې اوسي

خاوره په لاس کښې زر کوي او جولۍ بل ته نیسي
خولې خولې مداري توله ورځ غرمو کښې اوسي

د هندوازم تخریب کار بنیاد پرسته فکره
اوږے اولس دې د بمونو تجربو کښې اوسي

هغه به څه اوخوري وابنۀ خو په غریب یې خوروي
د چا پنڅه واړه چې ګوتې په غوړو کښې اوسي

د بنګله والو په ګملو کښې یورپی ګلونه
د ګلالي وطن سپرلی په سپېلنو کښې اوسي

زلفې خورې نهٔ کړې زرین ته سترګې تورې نۀ کړې
جانانه دلته ښائیستونه په ګولو کښې اوسي

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net

سُور ګل د سوراړي یم په غرمو کښې پاتې کېږم
بیا هم تروتازه په بړبوکو کښې پاتې کېږم

ګل چینو ته ازغي په سترګو کښې غړېږم
ګل قدرو په پټکو او په کمڅو کښې پاتې کېږم

دا ځنې بې رخۍ مې فطرتي ځنې د وخت ده
خاموشه د فکرونو هنګامو کښې پاتې کېږم

رڼا پسې پتنګ ځي چې ویرېږي د تېرو نه
زه هغه اورکے یم چې تیرو کښې پاتې کېږم

هر څو که مې د فن کشتۍ د وخت مانګې سورې کړي
زه داسې لامبوزن یم چې چپو کښې پاتې کېږم

مخ پټ کړه په پلؤ کښې د مغرب کلتور خوړلې
سړے به ښکارم نه خو په سړو کښې پاتې کېږم

د ښار بنګلې به ما زیړ شمکے نه کړي ګملو کښې
زه شین لکه نښتر په دنګو غرو کښې پاتې کېږم

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



مېږے د ډډې لاندې وژنی اوښ وهی په بډه
زۀ داسې بدعنوانه او په غلو کښې پاتې کېږم

د بل قدر کوم ځکه د بل نه قدر غواړم
پښتووائېم پښتون یم پښتنو کښې پاتې کېږم

مقدار ته هڅه نه کړم د معیار یمه قائل
فنکار یمه د فن په باریکو کښې پاتې کېږم

زرین به مری زرینه زۀ زرین پرېشان نۀ مرم
ژوندے به د دنیا په تذکرو کښې پاتې کېږم

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



## د عزت تاج ......صدارتي ایوارډ

د جاګیردار سرمایه دار په درباری نظام کښې
د عزت تاج چا یو غریب ته په سر کړے نهٔ دے
چرته سائل چرته ایوارډ هډو یقین نهٔ راځی
ځکه چې دلته حق حقدار ته چا ورکړے نهٔ دے

---

## چوڼ

اقبال بنۀ مسلمان ؤ مسلمان انقلابی
جالب یو بنۀ انسان ؤ بنۀ انسان انقلابی
یو شاه ؤ د شاهانو د مشرق د انقلاب
بل شاه د درویشانو د جهان انقلابی

---

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



# کمیونزم

یه د وخت قاتله د مقتل اهونو ورک کړلې
څۀ لکه د خس د بربوکو ګردونو ورک کړلې

تۀ خو لامبوزن ئې د چپو په سر ختلے شې
تۀ خو لویو لویو طوفانونو نه وتلے شې
تۀ خو د طوفان مخه په بله اړولے شې
تۀ خو سمندر هم په کوزه کښې بندولے شې
څنګه اباسین بیا په یو څو موجونو ورک کړلې
څۀ لکه د خس د بربوکو ګردونو ورک کړلې

چرته د غریب د سوی زړۀ داغونه ؤچاؤدل
چرته د مظلوم ساړۀ ساړۀ آهونه ؤچاؤدل
چرته د یتیم د اوښکو پټ رازونه ؤچاؤدل
چرته د چا کونډې د ښېرو پنډونه ؤچاؤدل
سم ئې لېونے په تورو تورو غرونو ورک کړلې
څۀ لنه د خس د بربوکو ګردونو ورک کړلې

Pukhto.Net

www.pukhto.net



ستا د مساوات هغه دعوې ټولې غلطې شوې
ستا د نظريې خوږې قيصې ټولې غلطې شوې
ستا د سوچ او فکر اندازې ټولې غلطې شوې
ستا د بيمار ذهن زاويې ټولې غلطې شوې
تهٔ خپلې باطلې عقيدې د زړونو ورک کړلې
څه لکه د خس د ړبوکو ګردونو ورک کړلې

ستا اشتراکی جوړ شوی غرونه لوټې لوټې شول
ستا ټول دليلونه منطقونه لوټې لوټې شول
ستا د غير قامی نظام برجونه لوټې لوټې شول
کلی شول تاله ترغه ښارونه لوټې لوټې شول
خپل خونړی فکر جنګيالو خويونو ورک کړلې
څه لکه د خس د ړبوکو ګردونو ورک کړلې

تا د معاشرې د تقدس مزے لنډ کړے ؤ
تا جماليت په روحانی لارو خنډ کړے ؤ
تا د کائنات حسن د رازه بربنډ کړے ؤ
تا د پردی خاوره خپل د پلار نيکهٔ ونډ کړے ؤ
تهٔ لکه ميږے خپلو درنو څانګونو ورک کړلې
څهٔ لکه د خس د ړبوکو ګردونو ورک کړلې

www.pukhto.net



یو خوا دي دَ یو وحدانیت مخالفت کؤ
بل خوا دي دنیا باندي یواځې حکومت کؤ
یوخوا دي مذهب سره کینه او عداوت کؤ
بل خوا پهِ مذهب مئینو تا ملوکیت کؤ
خپل منافقت په تضادی رنګونو ورک کړلې
څهٔ لکه د خس د بړبوکو ګردونو ورک کړلې

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



حِس د ګل بدن مې چې د لمس په شوندو ګرم شو
سور خمار خمار شو د حیا نه شرم شرم شو

سخت په سختۍ مات شي راجوړیږي په اټکل اټکل
سخت د کاڼي زړهٔ د یار په مینه نرم شو

سره غرمه د هاړ مې وه د زړهٔ صحرا صحرا موسم
مات مې شو د اوښکو پشکال پرې ترم ترم شو

سپک انسانیت د غریبۍ د عیب په تول نهٔ دے
نفس چې د حرص لوږې راواخستو نو جُرم شو

زړهٔ، مُلا، رقیب، بیربل په خپله خپله پاتې شو
یار لکه مغل اکبر د دین او نهٔ د دهرم شو

مرګ د بل اسان دے د ژوندون پالنه ګرانه ده
ظلم شو زرینه مرګ په خپلو پردو ظلم شُو

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



زړهٔ کلکې کلکې ارادې جذبې ربښتينې غواړی
د ژوند په لاره يو ملګرے خوږ د مينې غواړی

شنې د بنګړو ناجانه فکر بُربنډولے شی خو
زړهٔ شورؤنکی بنګړی لېچې مرمرينې غواړی

د پرونی فرهاد عزمونه اوربدل په غرونو
د نن فرهاد ديدن په کور کښې د شيرينې غواړی

اول په بل لمبه لمبه دوزخ کړی ژوندون
د جنت اوږی په اخره کښې بخښنې غواړی

زما يادونه مينه مينه د بارودو ډيری
ستا په نفرت نفرت زړګی کښې څوچاؤدنې غواړی

لعل په ايرو کښې پټوی او نمر په ګوته باندی
د شهرت اوږی شاعران خپلې ستائينې غواړی

زرينه خپل مخ آئينې ته مخ کؤلے نه شی
تهٔ دغه تور مُشکی ته ګوره دے هم سپينې غواړی

www.pukhto.net



جوړې بیا د وخت منصور په سولۍ سور شو
دا چې بیا په هغه پورې چم کښې شور شو

دا د کومو روایاتو معاشره ده
مینه جرم مینه عیب مینه پیغور شو

د خلیل جذبه د مینې کرامات وو
سور انګار ورته د سرو ګلونو کور شو

د کمزورې کمزورۍ مې کمزوري ده
پټ ښیګړه ننګ کوٗل راباندې اور شو

دخان سپي مات کړو مظلوم پړه ترې هم غواړي
د زوړ کلي کښې د زور د پاسه زور شو

ګل خو ګل دے خو چې تا کېښو د کمخو کښې
روڼ ائین چې نمر ته مخ شو نو شمکور شو

ما زرین غزل ته ډېر رنګونه ورکړل
پس زما د سترګو تور د زړهٔ ټکور شو

www.pukhto.net



څوک خپله پښې ابله ګرځي بل پسې پائېزار ګرځوی
څوک په ژوند بار وی څوک ژوندون په اوږو بار ګرځوی

چاته د نن نوی جامه سبا زَړه ښکارېږی
څوک په شلېدلی ګرېوانونو کښې ستن تار ګرځوی

څوک په داجونو کښې موټرې او بنګلې نهٔ منی
څوک په ځان مهر تمامی عمر ادهار ګرځوی

څوک یې په قبر جوړوی ګنبد د سرو او سپینو
څوک یې د سخات ګړې جولو کښې په مزار ګرځوی

څوک ځان سمبال کړی مازیګر بازار ته سېل له اوځی
څوک په کوڅه په کوڅه سر باندې بازار ګرځوی

زور د اسونو خرو کښې واچوی د زرو اوبهٔ
د سیم او زر خاوندان ځان پسې هوښیار ګرځوی

دا د پښتو مغروره سر به ئې څوک ښکته نهٔ کړی
زرین شراب د چانه نهٔ غواړی نسوار ګرځوی

---

www.pukhto.net

# مات بنګړی

مونږ لکه مات بنګړی د پښود لاندې
د محبوبې لاسو ته چرته رسو
مونږه دا عام خلق کۀ ډېر ښکلی شو
خدایه دې ستا خاصو ته چرته رسو

---

# تورغر

هسې خو زۀ یمه تورغر د تورو کاڼو نه جوړ
زما په غېږ کښې سپین سپېځلی پښتانۀ ؤسېږی
په ختو ګټو باندې جوړ تور د برګو کورونه
پکښې ساده ښاغلی پښتانۀ ؤسېږی

---

www.pukhto.net



# نۀ پوهېږي

د دهشتګردو یو مذهب نشته دے
هیڅ د خدائیۍ په معنې نۀ پوهېږي
د خدائے بندیان وژني د خدائے د پاره
د بندګۍ په معنې نۀ پوهېږي

زما اولس د خېراتونو نه جوړ
د خودداری په معنې نۀ پوهېږي
په خپل وطن په خپله خاوره باندې
د خپلواکۍ په معنې نۀ پوهېږي

زما زلمي د خود نه ووتي زلمي
د بې‌خودۍ په معنې نۀ پوهېږي
چې په نشو کښې خپل سکون لټوي
د ښېرازۍ په معنې نۀ پوهېږي

زما د نوي کهول زلمي پښتانه
د زندګۍ په معنې نۀ پوهېږي
چې په پښتو کښې انګرېزي ګډوي
د ترقۍ په معنې نۀ پوهېږي

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



زما د مینې د وطن ملوکه
د دلدارۍ په معنې نۀ پوهېږې
لکه کابل باندې لرګين طالبان
د باچائۍ په معنې نۀ پوهېږې

مینه سپېڅلې بې بدله جذبه
د خود غرضۍ په معنې نۀ پوهېږې
سر په سجده زاهد جنت لټوی
د دلبرۍ په معنې نۀ پوهېږې

خېرن خچن په سخا جاموکښې شتۀ من
د عاجزۍ په معنې نۀ پوهېږې
ساده ژوند ښۀ دے خو کۀ دې ته وائې
د سادګۍ په معنې نۀ پوهېږې

لیلا په کورکښې ده کوځه کښې مجنون
د بې وسۍ په معنې نۀ پوهېږې
هغه بنګړې شوروی دا لېونے
د لېونۍ په معنې نۀ پوهېږې

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



ښخ مې شول په زړهٔ بانهٔ
ستا کاږهٔ واږهٔ بانهٔ

تا چې راته اوکتل
ټول دې کړم بانهٔ بانهٔ

ترهنده هوسۍ لکه
تور اوږدهٔ اوږدهٔ بانهٔ

ښېغ مې د زړګی اوځی
ستا تیرهٔ تیرهٔ بانهٔ

فوځ لکه په برید ولاړ
ستا سوارهٔ سوارهٔ بانهٔ

چاته برند برند پورته کړې
چاته ښکته مړهٔ بانه

نن یې جنګۀمه زهٔ
وړهٔ مې شی که پړهٔ بانهٔ

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



ستا د راتلو لاره کښي
نن به کړم خوارهٔ بانهٔ

سترګو باندي هيڅ کله
خپل نهٔ وی درانهٔ بانهٔ

چرته د طاؤس وزر
چرته د کارغهٔ بانهٔ

اوره د زرين پهٔ لور
دا خوارهٔ خوارهٔ بانهٔ

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



د سترګو ژبې اوشي چې مهرونه په خُلو ؤلګي
یوه جذبه کۀ قتل شي انبار د جذبو اولګي

سپرلی کښې دځوانۍ لمغړې مستې هواګانې خوری
سېلونه د کونترو مازیګر په بلو ؤلګي

پټ مخي اولوئېږي په ګودر کښې د منګی سره
چې مخ دې شي څرګند اور په روانو اوبو ؤلګي

وعدې د نۀ راتلو دې عجيبه بهانې جوړې کړي
په کلي کښې شي غم هم دِ نکریزې په پښو ؤلګي

شي مات دِ ستا کوڅه کښې زما سرخوبیا به څۀ وی هان
که یو نیم کاڼے یاره ستا د ور په تمبو ؤلګي

زرینه د مالدار خبره نۀ ګوری څوک خُلۀ ګوری
هرڅو که نۀ سړے وی شي سړے په جرګو ؤلګي

Pukhto.Net

 www.pukhto.net

مُسکې شه چې دې ګونجې په تندي کښې پاتې نۀ شي
را اوګوره چې ویره مې زړګي کښې پاتې نۀ شي

نازک نزاکتونه د ځوانۍ ښکلا نۀ پرېوځي
ډوغل چې د ښائیست په اننګي کښې پاتې نۀ شي

د سُور سالو مېرمنې مۀ ځه مۀ ځه لا وختي دے
هیڅ خوند به د ګودر مازیګرې کښې پاتې نۀ شي

واړوه منګے راته په لپو کښې راواړوه
ډېر ترږے یم چې څاڅکے دې منګي کښې پاتې نۀ شي

سپرلے که ګل وزرین دے نو د تاسره جانانه
که ته نۀ ئې یو رنګ به په سپرلي کښې پاتې نۀ شي

نر ځوان ښکلے زلمے هوښیار سړے وي چې ناچار شي
والله چې سړیتوب بیا په سړي کښې پاتې نۀ شي

کۀ ستا وطن تا ما یو ځائے ساتلے شي جانانه
زرین به په دې قېد د سعودي کښې پاتې نۀ شي

---

www.pukhto.net



# پنځوس کلیز سفر، ۱۴ اګست

عنوان راته مقتل شو مضمونونه وینې وینې شول
په غوځو غوځو شوندو مې لفظونه وینې وینې شول

د وخت په سورا ړه کښې زغابنتے زغابنتے ترقیدلے ژوند
کا ړیز کاړیز سفر دے مزلزنه وینې وینې شول

مونږ غرونو کښې اوسېږو د ازغو فطرت لرونکی یو
جانانه ستا په ښار کښې خو ګلونه وینې وینې شول

زمونږ په وینو ږیرې سرې کوې نکریزې پاتې شوې
پګړې شوې سپینې سپینې جماتونه وینې وینې شول

واعظه ستا د وعظ بې منطقه دلیلونو کښې
سرۀ سرۀ شول منبرونه محرابونه وینې وینې شول

د زلفو خوشبویانې د بارودو بوئې را ونغړدې
بخری شول نښترې چنارونه وینې وینې شول

تۀ ماته سترګې سترګې شوې زۀ تاته سترګې سترګې شوم
زړینه د جنګ دواړه محاذونه وینې وینې شول

---

www.pukhto.net



# قیامت

لکه ږلۍ شپېږ شپېږ بمونه اوورېدل
زما د زړۀ په ښارېږ بمونه اوورېدل

نرے نرے لوساړه بوئی د ورتو غوښو راځی
په مسلمان چرته نزدې بمونه اوورېدل

چې ۀ د امن پیغمبر ژوندی کوُل یې مړی
نن د هغۀ په نظرېږ بمونه اوورېدل

چې مېکائل چرته وېشل خوارۀ خوېونه هلته
عزرائیل مرګ وېشۀ د شپې بمونه اوورېدل

ژوندی حسین د مړحسین یادونه بیا تازه کړل
د کربلا په هدیرې بمونه اوورېدل

زرینه خدائېګو د صدام د کم ظرفۍ په سبب
بیا په بغداد د امریکې بمونه اوورېدل

Pukhto.Net

www.pukhto.net

په زړۀ سنګين جانان به خپل په ناکړدو ژاړی
غر کۀ د شنو کاڼو نه جوړ وی په چينو ژاړی

اور په پوکلو تازه کېږی نۀچې مری ناصحه
د غم په وخت کښې خو زړۀ لا په دلاسو ژاړی

کاڼې په ما وريدل اوښکې ستا په مخ وريدې
ستاسو کوڅه وړه ګنی څوک په لېونو ژاړی

د ځوانی مرګی اظهار غږ مې منډه منډه کړلې
خولې خولې دې شو اقرار په اننګو ژاړی

ستا د لباس اوښکې زما په غم شريکې نۀ دی
اوس خو په مرګ کښې خلق هم په ملازو ژاړی

د وخت خليل يم په ما بل کړه نمرودی اورونه
زۀ هغه نۀ يم چې په څلو د ايرو ژاړی

پښتون پښتو وائی.کوی.لولی.ليکی زرينه
هم په پښتو ژبه کښې خاندی په پښتو ژاړی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



(خپل کچکول به ګرځؤمه خپل رباب به ټنګؤمه)

# د اجمل خټک کچکول او رباب

ټۀ په کچکول کښې د شاهانو خزانې ګرځوې
ستا په رباب کښې دی خوږې د انقلاب سندرې

ستا په کچکول کښې دی د ژوند د ښېرازۍ رازونه
د باچا خان د خدائیۍ خدمتګارۍ رازونه
د پښتنو او د پښتو پښتونولۍ رازونه
ستا په رباب کښې د خوشحال د ښېرازۍ رازونه
د پت ښیګړې ننګ وفا د توریالۍ رازونه
د وخت تیارو پسې د ژوند بلې ډېوې ګرځوې
لمبه لمبه دې کړې لمبې د انقلاب سندرې

ستا د ساده ساده فطرت نه عظمتونه شه ځار
ستا د خامتا سپینو جامونه مخملونه شه ځار
ستا ددې جګ جګ درونډ پکول نه سل تاجونه شه ځار
ستا په اوږه باندې څادر نه سرۀ شالونه شه ځار
ستا ددې خټو کټو کور نه محلونه شه ځار
په تراږو شونډو کښې تروږلې فیصلې ګرځوې
په غوڅو شونډو دې کړې سرې د انقلاب سندرې

www.pukhto.net

تۀ خپله خوار کړځې خو مونږ خواران لیدلے نۀ شې
مونږ له به خرڅ شې تۀ خو مونږ ه خرڅولے نۀ شې
پخپله غل نه ئې د غلو مرسته کولے نۀ شې
په حق وینا خُلۀ ماته ښۀ ده خو ګنډلے نۀ شې
تۀ د شنو شنو کاڼو ختک یې ماتیدلے نۀ شې
د اکوړی ملنګه ځان باندې ربښې ګرځوې
په خوار اولس باندې شیندې د انقلاب سندرې

تۀ د زندان په دروازه کښې د پرون چغه ئې
تۀ هم د نن په دار لمبه د سباؤن چغه ئې
د جاګیردار سرمایه دار د زړۀ چاؤدون چغه ئې
ته د وطن دې نوی کهول ته د بدلون چغه ئې
دې مړ اولس له مسیحا ئې د ژوندون چغه ئې
ساده ملنګه څومره ګرانې فلسفې ګرځوې
د مړو په چم ړکړې تودې د انقلاب سندرې

---

وضاحت : د اجمل ختک د اے این پی نه په وتلو او د هغۀ د نظم

**خپل کچکول به ګرځومه** ، په جواب کښې مې لیکلے دے۔

پریشان

 www.pukhto.net

## کعبه

غوني غوني شي رنګ رنګ کښې وجدان راشي
په زړغوني کېفيت کښې طوفان راشي
د کعبې په ليدو زړهٔ داسې درزيږي
لکه مخې له ورک شوے جانان راشي

## لېډی ډيانه

تاج د برطانيې د کړلو پښو ته سرنګون
په د ښائيستونو ښکلاګانو ښاپيرې
تخت د برطانيه په برطانيه کړو حکومت
تهٔ وې د کروړ ها خلقو د زړونو شهزادګۍ

## لور د کوره او زوم د کوره

د باز بچے کړې ځان د باښې بچے
خورې ګندګې لکه د ماشې بچے
ځان به د مور او پلار نه وشوکوی
شي هميشه د سخر او خوابنې بچے

www.pukhto.net



# زوړ تصویر

زما د کور په نړېدلی دیوال زوړند تصویره
دوړې دې واختېدې په مخ باندې د ژوند تصویره

خدائے خبر چاته وازو سترګو کښې خوبونه کوې
نه د چا غبرګ کښې شوې اوده نه په مړوند تصویره

څو خزانونه بهارونه په تا راغی او راغی
ته د موسم د تغیر نه ئې پابند تصویره

د زمانې ډېرې تودې سړې په تا تلی دی
پرانستی سترګې چُپه خُله غوږونه بند تصویره

څوک د د ګوره غورځوی د فرښتو د ویرې
څوک دې په زړه کښې لکه بُت ساتی نیازمند تصویره

څوک دې په جیب کښې ګرځوی چې څوک داونه وینی
څوک لګوی په لویه لاره دې څرګند تصویره

ورکه تصویره چرته تا هم تصویر کړے دے ژوند
د ژوند نبضونه دې په لاس وو عقلمند تصویره

ته فلسفی د کائنات په لټون سوچ اوړے ئې
زه زرین ستا په ګمنامی یم فکرمند تصویره

www.pukhto.net



ما چې خپل غزل شروع کړو د آدم د رباب ترنګ شو
د زخمي هوسۍ فرياد شو د درخو د بنګړو شرنګ شو

د شفق رنګونه زيړ شول په تورغر سيورې خوارۀ شول
د ننديارۍ مازيګرتود شو د سپرلي خوړ په غورځنګ شو

د ديدن وعده سبا ده توره شپه توره بلا ده
خدايه زرغونده سبا کړې په تيارو کښې مې زړۀ تنګ شو

ما پرې ځان رسۀ تاته هغه اورسېدو تاته
ربيار تا سره اشنا شو خو د ما سره په جنګ شو

عشق منصور په سولۍ زوړند کړونو خپل ځان ئې سربلند کړو
خو د قيس نه چې مجنون شو د ليلا د در ملنګ شو

زړۀ چاؤدلے آسوېلے مې د شپونکي د غر ټپه شوه
ورته غرونه په ګډا شول بوټے بوټے ئې لونګ شو

ستا دستر کو پښتونخواه کښې اباسين^ چپې چپې دے
چې زرين پکښې لاهو شو د پښتو په رنګ کښې رنګ شو

^ اباسين يوسفزے

---

www.pukhto.net

چرته چې مینه کاروبار کړی کاغذی نوټونه
هلته کښې ژوند په اوږو بار کړی کاغذی نوټونه

چرته خلوص چې نمائش شی او احسان شی مینه
هلته پخې رښتې تار تار کړی کاغذی نوټونه

وائیم چې هغه زر پرسته مری ماته کړمه
چې د ګلونو په ځائے هار کړی کاغذی نوټونه

دغرپه سر لری بازار چې جیب کښې زر لری څوک
اوچه صحرا ګل و ګلزار کړی کاغذی نوټونه

ډېر شرابیان کبابیان هم جنت ته اورسوی
ډېر زاهدان هم ګنهګار کړی کاغذی نوټونه

ډېر ګنهګار بنکته راکوز کړی هم د دار د سره
ډېر بېګناهو له په دار کړی کاغذی نوټونه

زرینه ستا د غوښې پوست زړهٔ کښې اونهٔ ځائېدل
ګنی په شنو کانو کښې لار کړی کاغذی نوټونه

---

www.pukhto.net

# سپوږمۍ په ګل بڼونو

د شپې ناوې په غېږ کښې رپېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

خاموشه خاموشي کښې د سپرلی د سیلۍ شور
ګلاب کښې رنګ د شونډو د پښتو اننګو خور
سُور زړهٔ کښې د لاله داغونه تور د سترګو تور
غاټول هسکه غړۍ نرګس په خپل ډنډر نسکور
چپه پرې د رنګونو خوربدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

زړهٔ مستو هواګانو ننښترونه شغَوُل
نرو نرو بادونو چنارونه شنَوُل
ټیکاؤ ټیکاؤ ډنډونه ابشارونو رپَوُل
د وارو اوازونو نه سازونه جوړېدل
د خیال ښاپیرۍ منځ کښې ګډېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو وربدله د سپرلی

www.pukhto.net

يو خوږ غوندې احساس په کائنات راورېدۀ
اسمان په ستورو ډک په رڼاګانو پړقېدۀ
فضا کښې ترم باد د خوشبويانو چلېدۀ
يو نور د نکهتونو په ماحول راخورېدۀ
وږمه ترې ښاښکې ښښېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

تازه تازه موسم د يخو يخو پلوشو
خمار خمار ماحول کښې غزونې د نشو
جانان جانان منظر د زړۀ راښکونکو نظارو
مدهوشه کيفيت د مستو مستو تماشو
خوږه خوږه هوا راالوتله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

زرينه زۀ او يار يو بل سره وو ښنګ په ښنګ
زرينه سترګو سترګو کښې ؤتود دسترګو جنګ
زرينه په هر لور ؤ د ليلا د بنګړو شرنګ
زرينه نور د رنګ د پاسه نۀ شو ختے رنګ
چې وېښ شوم د نمر خيره لګېدله د سپرلی
سپوږمۍ په ګل بڼونو ورېدله د سپرلی

www.pukhto.net

# انسانیت

شیخ دِ جنت ته مسلمان بوځی
هم دِ هغۀ سره خپل ځان بوځی
جنت په دۀ باندې خو نۀ تنګیږی
که ځان سره هر یو انسان بوځی

---

# پښتو په هزاره کښې

هندکو درنه چاپېره ده پښتو به درنه هېره کړی
پښتونه خپل د ځان پېژندګلو به درنه هېره کړی
زرینه که هرڅومره لامبوزن د اباسین ئې تۀ
طوفان کۀ پکښې راشی نولامبو به درنه هېره کړی

---

www.pukhto.net



ګرانه ده ګرانه د هرڅه نه غریبي ګرانه ده
د درد د څپیکو په لمبو کښې ژندګي ګرانه ده

مونږ د سپرلي د مازیګر د تماشو لیوني
مونږ ته د هار په سرو غرمو کښې مزدوري ګرانه ده

ځکه آدم ته فرښتو ښکته کول سرونه
سجدې کول خو دي اسانې بندګي ګرانه ده

نه ترې دښمن ویره کوي نه پرې یاران چاده وي
په غریبۍ کښې یارانه هم دښمني ګرانه ده

د غریب یو سر ته بلها بلها کعبې جوړې دي
دغه یو سر چې د هر در په درشل ږدي ګرانه ده

مونږ د غمونو یو عادت د غم هیڅ غم نه کړو
غم به بې غمو ته وي ګران مونږ ته ښادي ګرانه ده

مسافري ده د بې وسو مجبوري زرینه
څوک چې جانان جاناز وطن جانان پرېږدي ګرانه ده

www.pukhto.net



چې لېونے جانان مې ورک د ملکه شو

لاړ ترينه جانان کلي کښې نشته دے
هيڅ اوس په دې وران کلي کښې نشته دے

چاته ځان سمباله چاته جوړه کړم
هغه په ما ګران کلي کښې نشته دے

چاته په مخ زلفې ورانې ورانې کړم
هغه قدردان کلي کښې نشته دے

چاته په ژړا شم چاته وخاندم
څوک مې د پرسان کلي کښې نشته دے

چاته ځان خفه کړم چې پُخلا مې کړي
هغه مهربان کلي کښې نشته دے

بې ياره ځواني حسن سپرلے وطن
ژوند له دې نه ګران کلي کښې نشته دے

www.pukhto.net



ګرمې دا حجرې تودې تودې کوټې
اوس هغه دوران کلې کښې نشته دے

بيا په زړو پلونو دې خدائے راوله
نور مې څۀ ارمان کلې کښې نشته دے

مۀ راځه سپرليه په ما مۀ راځه
نشته پرېشان کلې کښې نشته دے

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



# ملاله

سرهٔ ټیکونه دي دَ وروځو په محراب دی
که دي ایښی سرهٔ ګلونه په کتاب دی

کهٔ نهٔ چا انقلابیانو سرخ پوشو
را اېستلې سرې جهنډې د انقلاب دی

ستا د سترګو کالا باغ باندې جنګیرې
ځهٔ زما د پښتونخواه ځهٔ د پنجاب دی

ستا د حسن اباسین چپې چپې دے
درنیولې درته سرې سترګې چناب دی

اباسین دے د مُلا شراب خو نهٔ دی
چې یې ښکل دلته عذاب هلته ثواب دی

د اغیارو سترګې ځکه درته برېښې
ستا د حسن ښائیستونه بې حساب دی

ګل خوبانې ګل اندامې آهو چشمې
داغضب غضب کاتهٔ دې دَ عقاب دی

www.pukhto.net



سپينو سپينو انګو کښې د سرخۍ سره
کۀ په سپينو کټورو کښې سره شراب دی

د ګبين مچۍ په شونډو دې بنيرې
په دې خيال باندې چې پانړې د ګلاب دی

عاشقان درېسې ځيرې ګرېوان ګرځي
د زرين په شان ته ډېر خانه خراب دی

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



چې بېله تانه مې اختر تېروځی
لکه د ژمی مازیګر تېروځی

د مسافر اختر پردی وطن کښې
لکه په یو بل مسافر تېروځی

د وطن خلقو تاسو څهٔ خبر ئې
په مونږ مابنام ښنګه سحر تېروځی

پردی وطن کښې هم خپل خلق په خوا
خفه خفه او مرؤر تېروځی

د مرمرینو محلونو ښار کښې
پښتون لا هغسې نهر تېروځی

دلته د هر یو شیخ په لاسو کښې باز
د هُما سیورے یې په سر تېروځی

ددې ښائیسته یخو بنګلو نه بهر
زمونږ هم تږوله ورځ په نمر تېروځی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



دلته د دار په سر د سر تماشه
هرې جمعې له په منبر تېروځی

نن د اختر سلام مې خپل وطن ته
سوړ اسویلے شو په تورغر تېروځی

زمونږ دا دوه دوه نیمې ورځې ژوندون
زرینه خاورې در په در تېروځی

Pukhto.Net
پښتو

خدایه تا کۀ د ښائیست په کلی خان کړم
دیدنونه به مئینو ته آسان کړم

چې زما ښکلے جانان پکښې وسیږی
هغه کلے به د ګلو ګلستان کړم

کۀ یو ځلې مې سپرلے په لاسو راشی
ټول ګلونه به په غاړه د جانان کړم

عشقه دا دې په ما کومې لوبې وکړې
روغ سرے دې لیونے خیرې ګریوان کړم

خدایه دا دې په ما څومره لوئے احسان دے
چې پیدا دِ مسلمان کره افغان کړم

ښۀ ده ښۀ کۀ سر مې ستا کوڅه کښې مات شی
ښۀ ده ښۀ چې ځان په تا باندې تاوان کړم

www.pukhto.net



ستا فراق کۀ مې سپيرۀ تندی کښې ليک وی
په سجدو به د قسمت ليکلی وران کړم

ما زرين څخه يو زړۀ ۇ چې مې درکړو
کۀ سرغواړې دا به هم درنه قربان کړم

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



د اتم اکتوبر زلزلې چې وطن يې وران کړو او مونږ
تراوسه پورې د خېمو په ژوند مجبوره کړی يو

# قيامت خېزه زلزله

څه قيامت خېزه زلزله وه ربه
کلی شول وران ښارونه پاتې نۀ شول
پخې پخې بنګلې راپرېوتلې
کچه کچه کورونه پاتې نۀ شول

يو ساعت مخکښې زندګی موسيده
بل ساعت وروستو ماتمونه کېدل
يوه لمحه مخکښې خوشحاله ؤ ژوند
بله لمحه ورستو وېرونه کېدل
ماشومانان د مېندو اوشو کېدل
د بې اسرو پلرونه پاتې نۀ شول

د ماشومانو له کچه لاسونو
د ښدو موټو چڼ چڼې پرېوتل
د پېغلو پېغلو جينکو د ليچو
د سپينو سرو زرو بنګړی پرېوتل

www.pukhto.net



خوښدې اومیندې شوې سرتورسرونه
کلک ستروند سترونه پاتې نۀ شول

خوارۀ وارۀ شول په هر لور ګردونه
د ګاڼو بوټو نه لمبې ووتې
زخمي زخمي او وینې ویني شو ژوند
د هر یو کوره جنازې ووتې
ډېرځيګر ور پکښې خولې خولې شول
ډېرو بې زړو کښې زړونه پاتې نۀ شول

لکه کابل او په بغداد باندې بیا
وکړې حملې اتحادي فوځونو
لوګے لوګے کړې دوړې دوړې فضا
په ابادۍ راوروی بمونه
کنډر کنډر شو لوټې لوټې وطن
د ابادۍ نقشونه پاتې نۀ شول

ځنګ به یه مونږ زلزله نۀ کبدله
مونږ به د یو بل ورانۀول د.....ه
یو ته یوه او بل ته بله وئیل
په ځان کښې مونږ به جنګول کورونه

www.pukhto.net



سیورے د چا په سر چا نهٔ پرېښودو
ځکه په چا چتونه پاتې نهٔ شول

زمونږ مونځونه د ریا مونځونه
زمونږ هم ږیرې رواجی پالنې
زمونږ حجونه د سیالۍ حجونه
زمونږ روژې روایتی پالنې
مونږ د بندیانو بندګی کوله
په مونږ کښې خپل قدرونه پاتې نهٔ شول

د زلزلې د تسلسل د ویرې
شو په خېمو کښې بندیوان زرینه
واورې کنګل او د باران د ویرې
ژوند شو په مونږه باندې ګران زرینه
مړهٔ خو شول مړهٔ خو د ژوندو په مخو
د زندګۍ رنګونه پاتې نهٔ شول

Pukhto.Net
پښتو

www.pukhto.net



ستا د حسن نظارو ته ښائيستونه تار په تار شول
په سپرلي کښې د ګلونو ګرېوانونه تار په تار شول

ستا جذبې اوبۀ اوبۀ شوې چې پلۀ مې ترېنه واخښت
ددې پېغلو ستروندو څادرونه تار په تار شول

ستا تصوير له ورکوُل مې د بوډۍ د ټال رنګونه
تۀ چې ماته مخامخ شوې ټول رنګونه تار په تار شول

د اظهار ځېرے چې وشو د الفت بنديخانو کښې
د اقرار لاسونو ښو کښې زنځيرونه تار په تار شول

ستا د زلفو سلسلې چې په احساس خورې ورې شوې
د وږمو رنګونه فق شو نکهتونه تار په تار شول

په لمبو د انتظار کښې ملاقات لوګے لوګے شو
د يقين بالاحصار کښې ستا لوظونه تار په تار شول

د ژوندون په سترګو لاړو ئې سا لنډه لنډه کېږي
د زرين ټول حسرتونه ارمانونه تار په تار شول

---

www.pukhto.net



په چمن کښې هر يو ګل ته د ازغو په څوکو لاړ ده
ستا ديدن ته ستا د سترګو د بڼو په څوکو لاړ ده

زاهدان پرې کله تلے شي په زړۀ چاؤدو شوګيرو کښې
ستا د زلفو تورې شپې ته د کمڅو په څوکو لاړ ده

که د پرخې شپول بورا ته دے د ګل په اننګو کښې
ستا د سپينې خُلې بوسې ته د خولو په څوکو لاړ ده

زما وينې پلونه به پرې تل تر و تازه وی
د قاتل جانان کوڅې ته د چړو په څوکو لاړ ده

لوے والی په علم پوهې ده په مال او وجود نۀ ده
که هر څومره ګړنګين وی خو د غرو په څوکو لاړ ده

دغه سپين کفن به خپل د حريت په وينو سُور کړم
اے زرينه ستا منزل ته د نېزو په څوکو لاړ ده

www.pukhto.net



محبت په هغه زړونو کښې ؤسيږی
چې احساس يې په ګلونو کښې ؤسيږی

ستا يادونه زما زړۀ کښې ناقراره
لکه څړيکې په دردونو کښې ؤسيږی

د غصې نه پس خندا مې، د يار واه واه
محبت هم نفرتونو کښې ؤسيږی

ملاقات يوه خوږه لمحه وی تېر شی
انتظار په قيامتونو کښې ؤسيږی

ددې دؤر لېونی څومره هوښيار دی
نه ځی غرونو ته ښارونو کښې ؤسيږی

دلته هر يو دوئيم تن ذهنی مريض دے
په شکونو په وهمونو کښې ؤسيږی

دا زما دَ غرَئيزې ، ښيښې پېغلې
لکه ځرکې چې په غرونو کښې ؤسيږی

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



چې دنیا ورته له ځانه وړه ښکاري
داسې خلق په ځانونو کښې ؤسیږي

په ژوندو تنو کښې بې له مینې زړونه
لکه مړي چې قبرونو کښې ؤسیږي

•

خلق اوسې په سپوږمۍ پښتانۀ اوس هم
د برګو تورو ګورونو کښې ؤسیږي

ځۀ به څۀ هغه اولس ترقي وکړي
چې یو بل سره جنګونو کښې ؤسیږي

چې په کومه خاوره ناز جاګیرداران کړي
دا زمونږ په قدمونو کښې ؤسیږي

د وطن مینه هغو نه ؤیوښته چې
د پردو په هیوادونو کښې ؤسیږي

څوک وي مړۀ په ژوند زرینه څوک چې ؤمري
وي ژوندي په تصویرونو کښې ؤسیږي

www.pukhto.net



مینه ګل دے مینه خار دے
چرته نور دے چرته نار دے

نن په دې مصروفه وخت کښې
محبت ته څوک وزګار دے

دا یو څو ورځې ژوندون دے
محبت پکښې پکار دے

دې غریب غریب وطن کښې
سل بیمار دی یو انار دے

نن هم رانغے ماښام شو
پرونے مې قرضدار دے

ته خو زړهٔ غواړې د مانه
زما سر د تانه ځار دے

د ځوانئ په ورځو شپو کښې
خپل په زړهٔ د چا اختیار دے

Pukhto.Net
پښتو

 www.pukhto.net

د بقا لار په عقباء ده
د دنیا فانی بازار دے

دا ژوندون زرینه څۀ دے
خو بس مرګ ته اِنتظار دے

---

Pukhto.Net
پښتو

## ژوندون

یو ورځ د دیدن د خوږ جانان یوه لمحه اوځی
یو ساعت د یار د جدائی د سلو کالو دے
سل کاله ژوندون د غلامی زرینه نۀ غواړم
یو ورځې ژوندون د ازادی د سلو کالو دے

---

www.pukhto.net



# پېغلوکې

تۀ لا وړه يې لا په بام د ودرېدلو نۀ ئې
تۀ لا په لېچو د بنګړو د شورولو نۀ ئې

د سپرلی ول غوټۍ نازکې پاڼې پاڼې به شی
ملا به کړې ماته د منګی وچتولو نۀ ئې

اوږدې اوږدې زلفې رالنډې کړه سونډ ے ګرځوه
ګېډ ے د زلفو په اوږو د ګرځولو نۀ ئې

ته لا په مخ دې د پلو نه بکل مۀ جوړوه
د سترګو لاندې د پړونی د تړولو نۀ ئې

تۀ لا په چم باندې میرګاټ کوه چیندرو توده وه
د مینې لوبه لا په زړۀ د تودولو نۀ ئې

تۀ لا د کلی په کوڅو کښې پټ پټونی کوه
تۀ لا په زلفو کښې د مخ د پټولو نۀ ئې

www.pukhto.net



تهٔ کښتره خورئې د سپوږمۍ لا په مخ داغ نهٔ لرې
تهٔ لا سپوږمۍ نهٔ يې د تندر د نيولو نهٔ ئې

مينه د سترګو ژبه وائي شونډې چُپې ساتي
تهٔ په محفل کښې لا د زړهٔ د حال وئيلو نهٔ ئې

زرينه تا هم چرته مينه چاسره کړې وه
ځوانه ځواني وه اوس د ځان د شرمولو نهٔ ئې

---

## ښکلی

ښکلی ښکلی نهٔ وی د مئين سترګې يې ښکلې کړی
ستا سترګو کښې يو اوسی زما سترګو کښې بله ده
مينه د يوسف يا د ليلا مخونه نهٔ ګوری
سپين د تور خبره نهٔ ده خوښه خپله ده

---

Pukhto.Net پښتو

 www.pukhto.net

مه جنګوه ستر ګی تماشه به ترینه جوړه کړي
خلق به خبر شي څۀ قصه به ترینه جوړه کړي

ستا دې بت شکن نظر اوس هم بت پرستی زده کړه
زړۀ د الله کور دے بتکده به ترینه جوړه کړي

مۀ خېژه کوټي ته چارچاپېره منېنان چورلی
تور د برګو کور دی دے کعبه به ترینه جوړه کړي

غني راته مۀ ږده ستا کوڅه ده د ټول کلی لاړ
خا مخا د کور کلی ګیله به ترینه جوړه کړي

مونځ کښې مې تصویر دستر ګو مخکښې مخکښې مۀ کېږه
ما به کړي خطا سجده سهوا به ترینه جوړه کړي

تۀ به خپل عادت کړي څوک به تښتي د خوشحالی وچوی
مۀ خندوه زلفې اشاره به ترینه جوړه کړي

مۀ کوه زرینه ټاټ ماری د مره خوا اشنا
سم ساده غزل دے قصیده به ترینه جوړه کړي

---

www.pukhto.net



د اظهار او د اقرار په لاره لاره
رانه پاتې نۀ شی یار په لاره لاره

یار له ځم رېښې رېښې جامې ګنډم خو
چانه وغواړم ستن تار په لاره لاره

عشقه ستا په ګړنګونو چې راتېر شوم
چرته نُور ؤ چرته نار په لاره لاړه

په خندا خندا راتله راغله په جنګ شوه
ورته څه ؤوې اغیار په لاره لاره

زۀ خو ستا په قدم تا پسې روان یم
رانه بیله نۀ کړې لار په لاره لاره

د جومات نه راروان په شا شا ګوری
چاته خاندی مونځ ګزار په لاره لاره

www.pukhto.net



د ژوندون په لاړ سفر لړه د مينې
يو ملګرے دے پکار په لاړه لاړه

مۀ ځه مۀ زرينه نن په هغو لارو
چې صبا يې شرمسار په لاړه لاړه

Pukhto.Net
پښتو

## د صدام حسين په پهانسئ

د يو جابر په مرګ خفه نۀ يم خو ولې خدايه
شونډې مې اوچې کيږي سوے ساړے کوی
ځه خو ربښته به مې د زړۀ ورسره وی نو ځکه
زړۀ مې نرے نرے خوږيږی سوے ساړے کوی

## د امن په نوم

زهٔ په رېښتينې روښان خياله يم خو داسې نهٔ يم
چې خپل مذهب او ثقافت باندې به ننګ نهٔ کوم
زهٔ په رېښتيا امن پسند يمه خو داسې نهٔ يم
چې څوک مې ځنيسي کړېوان او زهٔ به جنګ نهٔ کوم

زهٔ په رېښتيا په يار مئين يمه خو داسې نهٔ يم
لکه مجنون ځ د ليلا پسې شلېدلے ګرېوان
زهٔ يو پښتون پښتو مئين د يويشتمې صدۍ
مينه کوم سپينې جامې او سپين سپېځلے ګرېوان

زهٔ په رېښتيا حسن پرست يمه خو داسې نهٔ يم
چې د بربنډو منظرونو نظارې لټوم
د کائنات حسن په راز کښې دے نو ښکلے ښکاری
زهٔ چې څه نهٔ وينمه هغه تماشې لټوم.

Pukhto.Net پښتو

www.pukhto.net



زه په رښتیا د قام شاعر یمه خو داسی نه یم
چې خپل قلم خرڅ کړم په خلقو قصیدې لیکمه
زما قلم زما د قام دے امانت ما څخه
پۀ دې به خپل د قام د خپل وطن نغمې لیکمه

زۀ په ریښتینے مسلمان یم څکه داسې نۀ یم
چې خپل بچی بې آسرې پرېږدمه جهاد له ځمه
د یو جنت د پاره څنګه بل جنت پرېږدم
د خپلو واخلمه ښیرې د پردو داد له ځمه

زۀ په ریښتیا اسلام پسند یم څکه داسې نۀ یم
توره راواخلم دنیا ټوله مسلمانه کړمه
دنیا د بدر میدان نۀ دے نه رهبر هغه دے
هسې نه شتۀ مسلمانی هم په ځان ګرانه کړمه

اوس خو د جنګ میدان نه ډېر لرې د غرونو پناه
بارود را اوری میدان نه قتل ګاه جوړه کړی
د نړې والو دهشتګردو مخنیوے پکار دے
ددې نه مخکښې چې دنیا نه کربلا جوړه کړی

www.pukhto.net



تــه د جـمـهـور جـمـهـوريـت دعـوې خو ډيـرې کـوې
خو ستا عمل ددې خلاف دے خپل مطلب لټوې
تهٔ په دنيا تهانېدارى غواړې کهٔ نهٔ منى څوک
تهٔ په هغهٔ باندې حملې له څه سبب لټوې

زهٔ خو يو بم ځان سره خلاص کړم خودکشى ؤکړمه
تهٔ په زرګونو په لکهونو وروې بمونه
زما عمل د بدو بد دے ستا د بدو بدتر
پهٔ ما قدغنې لګوې تهٔ جوړوې بمونه

اسلام هغه نهٔ دے مغرب اوچې يورپ يې ګڼى
هم هغه نهٔ دےچې مشرق کښې جهاديان يې وائى
اسلام خو درست انسانيت له دے د امن پيغام
اسلام هغه دےچې حديث کښې دے قرآن يې وائى

زهٔ په ريښتيا د وخت اواز يمه که اورى مې څوک
د هر چا خپله نظريه ده خپله خپله خوښه
چا باندې خپله نظريه په زور منل ښهٔ نهٔ ده
د هر چا خپله عقيده ده خپله خپله خوښه

www.pukhto.net



مونږ کۀ ګرجه ماتؤو یا د چا مندر سوزَؤ
زمونږ جومات زمونږ درګاه به داسې پاتې نۀ شی
نن چې دا کومې جذبې مونږ قابو کړلے نۀ شو
هسې نۀ دا صبا منت او ننواتې نۀ شی

مونږ د مذهب په نوم مذهب سره څۀ څۀ ؤنۀ کړۀ
زمونږ مُلیان په مونږ د یو بل جوماتونه سیزی
د خپل منبر د خپل محراب د پخولو په خیال
دا د حلوه اورِی په مونږ د خدائے کورونه سیزی

چې د برداشت د حده اوځی انتها ته رسی
هغه سوچونه بل څوک نۀ منی ځانونه منی
لمبه لمبه شی د نفرت په اور کښې ؤسوزی چې
محبتونه رد کوی او نفرتونه منی

د هر عمل رد د عمل وی دا خو هر څوک منی
غنډه ګردی دهشتګردی دواړه د یو بل خلاف
په وینو سره لوبه توده ده دواړه یو بل وژنی
لکه د مار او د نولی دواړه د یو بل خلاف

www.pukhto.net



یوه صلاح ده یو تجویز دے د نړۍ د امن
راځه چې خپلو رویو کښې څه بدلون راولو
نۀ تۀ زما کور ورانوه نۀ به زۀ ستا ورانوم
څه چې دنیا کښې دواړه امن او سکون راولو

---

www.pukhto.net



# آرزو

زما واړه سحرونه زما ټول ماښګرونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه
د ځوانۍ خوارۀ وختونه د ژوند ټول خوارۀ یادونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

چې وطن سپرلے شي ټول ماحول پرې ګلالے شي
د اسمان لمنې سرې شي غړغړيز ماښګرے شي
چې خوارۀ شي منظرونه پکښې ؤ خاندي رنګونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

د نښترو په شغا کښې د مارغانو اوازونه
د واورین غرونو په خوا کښې سپین چپې چپې خوړونه
چې رپیږي شنۀ ډنډونه پرې وربږي آبشارونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

چې زلمي په ماښګر کښې شي ټولګي ټولګي سېلونه
د شړشمو په پټو کښې جونه اخوي ساګونه
چې تودۀ شي ګودرونه پکښې جوړ شي اتنړونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

www.pukhto.net



چې نرے شمال وریږی هم غارمۀ او هم باران وی
د بوډۍ تال پکښې جوړ شی د رنګونو ډک اسمان وی
چې وارۀ وهی ټوپونه پړقوی ورته لاسونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

چې په دې وطن باچا شم په تخت کښېنم تاج په سر کړم
ددې کلیو ښاریو نه ښکلی ټول ځان ته حاضر کړم
داسې داسې سل تختونه داسې داسې سل تاجونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

په سکنی سکنی ما ښام کښې په شمله کښې ګرځیدلے
دښتړو مینځ کښې ناست وے په ورو ورو مشغولیدلے
ما په تا ویشتے ګلونه تا په ما ویشتے ګلونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ماله راکړه

یا مېله وے چرته هلته بې پروا وے له وختونو
لکه دوه جوړې همزولې ځنګېدلے په ټالونو
چې نږدې وے دیدنونه سترګو سترګو کښې جنګونه
واخله واخله د دیدن یو څو لمحې پرې ما، راکړه

---

www.pukhto.net



زلفې دې په مخ باندې سمیږي نهٔ
دا کړې وړې لاړې نېغیږي نهٔ

ستړے شومه ډېر په دشت د هجر کښې
سېورے د اوبل دې معلومیږي نهٔ

ګرانې دې ملګرو د رخصت لمحې
اوښکې تېنګوی سړے تېنګیږي نهٔ

خلق د پخوا نه داسې وائی چې
مینه چې هر څوک کوی ویریږي نهٔ

وخته تهٔ پرې ډېرې پېرې ودروه
مینه د جندرو لاندې قیدیږي نهٔ

سل ځله کهٔ غوځ یې کړې بیا جوړ یې کړې
سر د محبت چاته ټیټیږي نهٔ

پوهه دے زرین چې مینه اور دے اور
ځان به پرې لمبه کړې چې صبریږي نهٔ

Pukhto.Net

www.pukhto.net



## د بوټانو تقاضا

چې حاکم د محکومانو په شر واوړي
خپل دربان په ور ولاړ ئې په ور واوړي
اقتدار چې د حرص حدونه تېر کړي
ناکهانه د حالاتو منظر واوړي
مدعي چې چرته سست وي ګواه چست وي
هلته بیا د درئېم ګړي نظر واوړي
چې جمهور جمهوریت کره نوکر شي
داسې وخت کښې پرې دپاسه عسکر واوړي
خرمستي د لوړ سره په غرۀ ګډېږي
چې طوفان پرې د نوح راشي په غر واوړي
هر سېلاب ته بند په وخت تړل پکار دي
چې وخت تېر شي نو اوبه ئې په سر واوړي
شفېده زر زر لوئېږي زر زړېږي
نۀ زړېږي کۀ صدۍ په نښتر واوړي
چې زخمونه پرې د ژوبل زړۀ تولېږي
خبر دے مالګې دې زما په پرهر واوړي

www.pukhto.net



کهٔ مقصد ئې د بیمار واعظ علاج وی
د شرابو خُم دې ډک په منبر واوړی
دلته کله په روژه کښې اختر تود شی
کله کله هم روژه په اختر واوړی
دې غریب وطن زرینه ډېر ماڼهٔ کړل
مور چې مړه شی نو یو بل پرې نهر واوړی

---

Pukhto.Net پښتو

وضاحت: جنرل مشرف چې د نوازشریف تخته واړوله
دا نظم په هغه وخت ما اولیکو پریشان